

# الرسالة

Al-Risala

## څلورمه ګڼه – اپریل، ۲۰۲۵ ز

«اې خلکو! خبر شئ، څرنګه چې تاسې ويده کېږئ، همداسې به مړه کېږئ او څرنګه چې تاسې راويښېږئ، همداسې به بېرته راژوندي کېږئ. او بيا د تل لپاره يا جنت دی او يا د تل لپاره دوزخ.»

- د واقعيتونو په مقابله کې
- د ځان په هکله غلط فهمي
- د «ادب» تحقيق
- علمِ کلام – نوې کتنه
- په اسلام کې د ښځې مقام
- په پخوا زمانو کې انسان څرنګه ليکل کول؟
- پرده او حجاب

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# الرسالة

Al-Risala

## څلـــــورمه ګڼه – اپریل، ۲۰۲۵ ز

سرپرست: مولانا وحیدالدین خان

ژباړه: رحمت شاه فراز

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

- زموږ قوم جاهل دی، تاسو د دې قوم د ناپوهي پر وړاندې ولې نه راپورته کېږئ؟

- تاسو خپله څومره زدکړې کړې دي؟

- له بده مرغه ما خو خپله تعليم ونه شو کړای.

- نو بيا داسې وکړئ، چې سمدستي په کومه تعليمي اداره کې نوملیکنه وکړئ. که تاسو زدکړې وکړې، نو لږ تر لږه د قوم يو جاهل خو به کم شي.

د دوو کسانو دا مکالمه راته ښيي، چې په اوسنيو حالاتو کې زموږ لپاره د کولو کار څه دی؟ هغه دا دی، چې نورو ته د نصيحت په ځای هر کس په خپله برخه کې مصروف شي.

د ژوندي قوم نښه دا ده، چې هر وګړی يې د «زه څه وکړم» په پوښتنه فکر کوي. خو کله چې د يوه قوم وګړي د «نور څه وکړي» په پوښتنه بحثونه پيل کړي، نو داسې قوم مړ بويه. دا حرکت د مرګ حرکت دی، نه د ژوند حرکت.

ketabton.com - The Digital Library

# د اسلام داعي باید کوم صفتونه ولري؟

(شیخ الازهر دوکتور عبدالحلیم محمود)

د الازهر پوهنتون شیخ دوکتور عبدالحلیم محمود پر نومبر ۱۹۷۵ز هندوستان ته په سفر راغلی و. په دې سفر کې نوموړی جامعه دابیل (سورت) ته هم لاړ، او دلته د ښوونکو، زده کوونکو او ځایي خلکو یوه غونډه وشوه چې شاوخوا لس زره کسانو ګډون په کې کړی و. له مسلمانانو نه علاوه نامسلمانان هم په لوی شمېر کې ورته راغلي وو. په دې ځای کې د الازهر شیخ پر ۱۱ نومبر په عربي کې وینا وکړه، چې دلته یې د هماغې وینا ژباړه رااخلو.

(له حمد او صلوة وروسته) هغه کوم شرطونه دي، چې یو داعي باید پرې سمبال وي. لومړنی شی دا دی، چې داعي باید په بصیرت سره خپل دعوت وړاندې کړي. الله تعالی فرمایلي دي: **قل هذا سبیلی ادعوا الی الله علی بصیرة انا و من اتبعنی من المسلمین؛** یانې د داعي لپاره لومړنی اړین شی دا دی، چې د دعوت په برخه کې پوره بصیرت ولري او بې له شکه چې په بصیرت پورې علم او پوهه هم غوټه دي یانې داعي باید د دعوت له طریقو او اسلوب سره هم بلدتیا ولري. پکار ده، چې د قرآن کریم پوهه ورسره وي، له احادیثو سره اشنایي ولري. نبي کریم ص فرمایي «**خیرکم من تعلم القرآن و علمه.**» الله تعالی فرمایي «**لا یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون.**» نبي کریم ص فرمایلي «**اطلبوا العلم ولو کان بالصین**» او بل ځای یې فرمایلي «**طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة.**» له دې ښکاري، چې د دعوت په ډګر کې لومړنی شی دا دی، چې داعي په علم بالقرآن او علم بالسنت سمبال وي. الله تعالی قرآن کریم نازل کړی او نبي کریم ص یې شرحه او تفصیل کړی دی. د نبي کریم ص شرحه موږ د سنت په کلمې تعبیروو او د احادیثو په بهترینو کتابونو کې شپږ صحاح دي، چې مؤلفینو یې له ډېرو خواریو وروسته راټول کړي دي. امام بخاري، امام مسلم او نورو مصنفینو د الله تعالی د رضا په خاطر د دې احادیثو په تدوین او ترتیب کې زیار ګاللی دی. له بهترینو کتابونو نه یو بل کتاب چې د یوه مسلمان عادتونه او اخلاق راته تشریح کوي، ریاض الصالحین، د امام نووي اثر دی. په دې کتاب کې ضعیف او موضوع حدیثونه نه دي راوړل شوي، بلکې یا خو صحیح حدیثونه دي یا حسن چې د یوه مسلمان د عمل لپاره بیخي بسندویه دي. نبي کریم ص چې په څه ډول د خپل قول په ذریعه د قرآن شارح و، همداسې د خپل ژوند له پلوه هم د قرآن کریم شارح و. د نبي کریم اخلاق قرآن و، هغسې چې حضرت عائشه رض فرمایلي دي **کان خلقه القرآن.** له دې ښکاري، چې د داعي لپاره اړینه ده، چې د نبي کریم له سیرت سره هم بلدتیا ولري او د دې لپاره باید د ابن کثیر سیرت مطالعه شي چې د سیرت بهترین کتاب دی.

ketabton.com - The Digital Library

دغه راز دعوتگرو ته پکار ده، چې احیاء العلوم هم مطالعه کړي. امام غزالي په خپل دې مبارک کتاب کې هر هغه څه په ډېر هر اړخیز ډول بیان کړي، چې یو داعي ورته اړتیا لري. په دې کتاب کې فقه هم شته، اخلاق هم شته، تصوف هم شته، د زړه او اعمالو د پاکوالي په تړاو لارښوونې هم شته. د احیاء العلوم په اړه یوه اندېښنه دا ده، چې موضوع او بې اساسه حدیثونه هم په کې رااخیستل شوي دي، خو د امام عراقي له تخریج وروسته اوس یو داسې کتاب چمتو شوی دی، چې هر مسلمان ته پرې ویاړ پکار دی او هغه حدیثونه چې ضعیف ګڼل کېږي، امام زبیدي په خپله شرحه کې ثابته کړې چې دې حدیثو ته ضعیف ویل ناسمه خبره ده، بلکې همدا حدیثونه د بل سند او نورو روایاتو له پلوه قوي حدیثونه دي او هغه حدیثونه چې ویل کېږي، چې کوم اصل او اساس نه لري، مرتضی زبیدی چې یو لوی محدث دی، د هغو اصل موندلی دی. خو په اوسنی زمانه کې د دعوت په تړاو ګڼ نور شبهات هم منځته راغلي، د همدې لپاره له دغو شبهاتو سره بلدتیا او د هغو په ځوابونو پوهېدل د یوه داعي لپاره اړین دي او په دې برخه کې د مولانا وحیدالدین خان الاسلام لا یتحدی یا د نوي عصر ننګوني؛ د عقاد، حقائق الاسلام واباطیل الخصوم؛ د ډاکټر اسماعیل الاسلام والعصر الحدیث؛ د رشید رضا الوحی المحمدي باید مطالعه شي. د داعي لپاره دا هم ضروري ده، چې په اوسنی زمانه کې اسلام ته وړپېښ نوي اعتراضات او د هغو له ځوابونـــــــــــــــو سره هـــــــــــــــم ځان اګاه کړي او په دې کتابونو کې د دغو شبهاتو کافي او پوره ځواب ویل شوی دی.

## ابولهب ته دا خبره بابېزه ښکارېدله

د اسلام پیغمبر ص ته چې نبوت ورکول شو او خدای ورته امر وکړ، چې خلکو ته حقیقت اعلان کړه، نو نبي کریم ص د صفا غونډۍ ته وخوت.

په دې زمانه کې د لوی خطر د خبرتیا لپاره په مکه کې همدغه ځای ټاکل شوی و. نبي کریم ص خلکو ته اواز وکړ او راټول یې کړل. خلک چې راټول شول، نو نبي کریم ص یوه لنډه وینا وکړه چې ځو ټکي یې دا وو:

«اې خلکو! خبر شئ، څرنګه چې تاسې ویده کېږئ، همداسې به مړه کېږئ او څرنګه چې تاسې راویښېږئ، همداسې به بېرته راژوندي کېږئ. او بیا د تل لپاره یا جنت دی او یا د تل لپاره دوزخ.»

دا د آخرت د حقیقت اعلان و، چې دنیاپرسته خلکو ته واورول شو.

خو د نبي کریم ص د تره ابولهب د دنیوي فکر لپاره د اخرت دغه پیغام دومره نااشنا و، چې سمدستي له مجلس نه روان شو او په لوړ غږ یې وویل:

«تبالک سائر الیوم ألهذا جمعتنا» یانې تباه شې، د همدې خبرې لپاره دې راغونډ کړي و.

ketabton.com - The Digital Library

د داعي لپاره بل شرط دا هم دی، چې د داعي په زړه کې يوازې د خدای وېره وي، نه د بل چا وېره؛ او د لومة لائم له وېرې پرته د دعوت او تبليغ کارونو ته اوږې ورکړي، دريم شرط چې يو داعي يې بايد ولري، دا دی، چې د دعوت چاره په حکمت او موعظت سره سرته ورسوي او خپل چاپېريال پوره په پام کې ولري. له هرې طبقې سره او په هر چاپېريال کې هغه طريقه خپله کړي، چې د دعوت د بريا لپاره مناسبه وي. همدا خبره الله تعالی په «**ادع الی سبيل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة**» کې کړې ده. د حالاتو او زمانې له پلوه د دعوت هغه طريقه خپله کړي، چې له انساني مزاج سره سمه او له حالاتو سره جوړه وي، د حکمت او موعظت هغه اسلوب غوره کړي، چې زړونه د داعي په خوا کاږه کړي، احساسات راوپاروي او بنده خپل رب ته متوجه کړي.

ويل شوي دي، چې «**وجادلهم بالتی هی احسن.**» نرم خوی او نرمه وينا د دعوت له اساسي شرطونو څخه ده. او ويل شوي دي چې «**ولو کنت فظا غليظ القلب لا نفضوا من حولک.**»

په پورتني آيت کې يوه بله خبره د نېک عمل هم شوې ده او له نېک عمل نه مراد هغه عمل دی، چې اسلامي وي، له اسلامي شريعت سره اړخ ولگوي، د اسلام له مزاج سره جوړ وي، او د عمل هدف او مقصد د الله تعالی ذات وي. د موضوع او نيت له هر پلوه له اسلام سره مطابق وي. که نيت سوچه نه وي يا په دې عمل کې د الله تعالی له ذات پرته بل څوک مقصود وي، نو دا عمل به اسلامي نه بلل کېږي او نه به ورته د صالح عمل نوم اخيستل کېږي. په اوسنۍ زمانه کې مو بايد په دې خبره سر خلاص وي، چې هغه عمل به صالح عمل گڼل کېږي، چې د نيت او موضوع له مخې اسلامي وي. دريمه او وروستۍ خبره هغه ده، چې په دې آيت کې راغلې، «**و قال اننی من المسلمين**». له رسول الله ص نه د اسلام په تړاو پوښتنه وشوه، نو نبي کريم ص وفرمايل «**ان تسلم قلبک**» يانې زړه دې الله تعالی ته تسليم شي. همدا اسلام دی. هغه څه چې الله تعالی يې امر کړی، هغه وکړې او له څه شي نه يې چې منع کړی يې، له هغه راوگرځې، يانې ستا په وجود کې د بندگي او عاجزي ټول شان ښکاره شي، همدا اسلام دی او الله يو گڼې. سر دې د الله په وړاندې ټيټ وي او په هره برخه کې د هماغه اطاعت وکړې او هماغه ته دې غاړه ټيټه وي. همدا د اسلام حقيقي معنا ده.



ketabton.com - The Digital Library

# دين، اخرت غوښتنه ده

مهاتما ګاندي هم په اشتراکيت عقيده لرله او کمونيستانو هم. خو د دواړو فرق دا و، چې ګاندي اختياري سوشليزم ته غاړه ايښې وه او کمونيستانو جبري سوشليزم ته. د کمونيستانو سوشليزم په خلکو کې ومنل شو، خو د ګاندي سوشليزم يوازې د ګوتې په شمېر خلکو ورسره ومانه. وجه يې ډېره ساده وه: د کمونيستانو نظريه د عامو خلکو له فکري سويې سره برابره وه. مګر د ګاندي نظريه سره له دې چې بهتره وه، د عوامو له فهم نه لوړه وه. په دې نظريه يوازې هماغه خلک پوهېدلی شوی، چې په ټولنيزو مسايلو کې يې ژور فکر درلودلی.

همدغه چاره له مذهب سره هم رامنځته کېږي. په عامو خلکو کې چې د يوه مذهبي غورځنګ تود هرکلی کېږي، نو د دې حتمي معنا دا نه ده چې دغه غورځنګ په رښتينولی ولاړ دی، بلکې و دې شي چې وجه به يې دا وي، چې د عوامو فکري سطحې ته به نږدې وي. د روژې په مياشت کې په هغو دوکانونو ډېره زياته ګڼه ګوڼه وي، چې د پېشلمي او روژه ماتي «خوندور خواړه» خرڅوي. مګر څوک چې د روژې فلسفه بيانوي، د هغه په شاوخوا کې به مو ډېر کم کسان تر سترګو شي. ولې؟ ځکه چې د خوندورو خوړو تلوسه په هر سړي کې وي. خو په فلسفيانه غور او فکر د خلکو سر په درد کېږي.

هغه مذهب چې په «حلوا او برياني» کې د ثواب رازونه بيانوي، هغه به ډېر ژر د خلکو ملاتړ ومومي. ځکه چې د مذهب دغه بڼه د عوامو فکري سطحې ته نږدې وي. د دغه ډول مذهب په خپلولو سره دوی په خپل ژوند کې بدلون ته اړتيا نه ويني. هغه مذهب چې د کشف او کراماتو داستانونه ورپورې ترلي وي، عوام به د هماغه مذهب په لور منډې ور وهي، په دې چې له عجايبو سره مينه په ټوله دنيا کې يوه عامه انساني ځانګړنه ده. دغه راز هغه خلک چې مذهب په سياسي اصطلاحاتو کې بيانوي يا د غونډو او شعارونو مذهب توزيع کوي، هغه به ډېر په اسانه د خلکو توجه ځان ته واړوي، ځکه چې همدا هغه شيان دي، چې خلک له پخوا نه ورسره اشنا دي.

دين په اصل کې آخرت دی. د ديني ژوند مطلب دی، داسې ژوند چې ټوله توجه د اخرت په بريا او ماتې پورې راټوله وي. خو خلک په هره زمانه کې د دنيوي بوختياوو په سطحه کې ژوند کوي. که دين د دوی په دنيوي ژوند کې د ضميمې په ډول راځي، نو دوی يې په منلو کې هېڅ خنډ نه ويني. په دې حالت کې دوی دين بالکل په هغه سطحه کې مومي، چې پخوا په کې ولاړ و. خو کله چې دين د اخرت پالنې په شکل کې ورته وړاندې شي، چې همدا يې حقيقي شکل هم دی، نو بيا د خلکو سر نه پرې خلاصېږي، او خلکو ته چې دغه دين له خپلې فکري سطحې لرې ايسي، نو ځکه انکار ترې کوي.

په پخوانی مکه کې چې خلکو د لمانځه په اړه ويلي و، چې په بيت الله کې راټول شئ، چکچکې ووهئ او شپېلکې ووهئ (انفال – ۳۵)، نو د خلکو په منځ کې يې مقبوليت ډېر وخت ونه نيوه. چا چې د خدای پرستی کمال دا ښودلی و، چې حاجيانو ته اوبه ورکول شي او د مسجد حرام خدمت وشي (توبه – ۹) هغوی هم ډېر ژر په عامو

ketabton.com - The Digital Library

خلکو کې تائید ترلاسه کړ. ځکه چې دا خبرې د هغوی فکري سطحې ته نږدې وې. هغوی په خپل پخواني دنیوي قالب کې له بدلون پرته دغه دین په خپل ژوند کې ورزیاتولی شوی. دغه راز هغو خلکو چې د مذهب خلاصه یې دا ښودلې وه، چې د احبارو او راهبانو (مشرانو) لمنه در تم کړئ (توبه – ۳۱) هغوی هم په عوامو کې ډېر زیات ومنل شوو. ځکه چې د مشرانو مذهب د خلکو له دنیاپاله ژوند سره هېڅ ټکر نه درلوده. په دې ډول دوی کولی شوی، چې د خپلې خوښې په دنیوي بوختیاوو کې هم لګیا اوسي او د خپل خلاصون او بریا یقیني چاره هم وکړي.

خو د مذهب دعوت چې کله د نبي کریم ص په ژبه بیان شو، نو بالکل یوه بدله بڼه یې مخې ته راغله. دلته چې کوم مذهب وړاندې شوی و، هغه د خلکو د دنیاپاله ژوند په قالب کې نه و، بلکې غوښتل یې چې هغه قالب دړې وړې کړي او خپل ځان ته نوی ځای جوړ کړي. د اسلام د پیغمبر مذهب د مکې له خلکو نه غوښتل چې د اخرت په لور ورمنډې کړي نه د دنیا په لور. د همدې لپاره بالکل فطري وه، چې طبیعتونه ترې بېزاره شي، او خلک ترې مخ وګرځوي او ملنډې پرې ووهي.

## د واقعیتونو مقابله په الفاظو ناشوني ده

نواب واجد علي شاه تر ۱۸۵٦ پورې د اود واکمن و. ده ته یې د «سلطان عالم» لقب ورکړی و. ویل کېږي، چې کله د هند په زیاتو برخو د شرقي هند شرکت منګولې خښې کړې او خبرونه راغلل چې د انګرېزانو پوځونه د لکنو په لوري راخوځېدلي دي، نو د اود د نواب مېرمنې په ماڼۍ کې د نواب شاوخوا ته راټولې شوې او دښمن ته یې ښېراوې شروع کړې: «هی شوله! د فرنګیانو توپونه دې چینجي وخوري.» د اود د نواب دغه پېښه خو هسې ډېره ناشنا په نظر راځي. خو که غور وکړو، نو په اوسنۍ زمانه کې زموږ د رهبرانو حال هم له دې نه ډېر مختلف نه دی.



ketabton.com - The Digital Library

په تېرو پېړيو کې چې غربي قومونو په اسلامي هېوادونو وزرې وغوړولې، نو د هغو په ضد په ټوله اسلامي دنيا کې بې شمېره رهبران راپورته شوو. په ختيځ باندې د غرب دغه واک، د خپل نوعيت له مخې يوه ساينسي پېښه وه، نه په ساده ټکو کې مازې يوه سياسي پېښه. خو له دې پېښې سره د مبارزې لپاره چې زموږ له منځ نه کوم خلک راپورته شوو، هغه ټول يا شاعران وو يا واعظان. غالب قومونه د ساينس او ټکنالوژۍ په زور مخته روان وو، خو د هغوی د ځپلو لپاره زموږ له رهبرانو سره يوازې له شور او غوغا نه ډک د لفظونو توپان و. که د اود واکمن د ماشين مقابله د ښځو د ښېراوو په مټ کوله، نو زموږ رهبرانو هم هڅه وکړه چې د ماشين مقابله د شاعرۍ او وعظونو په مټ وکړي. په دې دواړو کې ظاهري فرق خو شته، مگر د حقيقت له مخې هېڅ فرق نه لري.

**د مولانا محمد علي** (۱۹۳۱- ۱۸۷۱) د ليک او وينا انداز رشيد احمد صديقي په دې ټکو کې انځور کړی دی: «څه يو بلا ليکوال او ويناوال و. چې خبرې به يې کولې، ته وا د ابوالهول اواز د مصر له اهرامونو سره سر جنگوي. چې ليکل به يې کول، گواکې د توپونو په کارخونه کې توپونه سازېږي يا د شاه جهان په ذهن کې د تاج محل نقشه برابرېږي. ما د دريځ په سر د هغه وينا اورېدلې ده. او محمد علي ته مې له داد ورکولو مخکې انيس ته داد ورکړی دی، چې «زمری په غورېدو را روان دی.»»

**د جمال الدين افغاني** (۱۸۹۷- ۱۸۳۸) د وينا يوه نمونه هم وگورئ. په ۱۸٦۸ کې سيد افغاني هندوستان ته راغلی و او ډېر وخت په حيدر آباد کې مېشت و. دلته يې د هندوستانيانو په يوه غونډه کې د وينا پر مهال وويل:

**«يا اهل الهند، وعز الحق و سر العدل، لو كنتم، و انت مئات الملائين، ذبابا لكان طنينكم يصم آذان بريطانيا العظمى ويجعل فى آذان كبيرهم المستر غلادستون وقرا، ولو كنتم، و انتم مئات الملائين من اليهود و قد مسخكم الله فجعل كلا منكم سلحفاة و خضتم البحر واحطتم بجزيرة بريطانيا العظمى لجررتموها الى القعر وعدتم الى هندكم احرارا.» (۷۰)**

اې د هندوستان خلکو! د حق په عزت او د عدل په راز مې دې قسم وي! تاسو سلگونه ميليونه ياستئ، که تاسې ټول مچان هم وای، نو يوازې د بنگا له لاسه به مو هم لويه بريتانيا کڼه شوې وه او د گليډسټون غوږونو به کار پرې ايښی و. او که تاسې يهودي وای او خدای مو جوڼې بدلې کړې او کيشپونه يې درنه جوړ کړي وای او په بحر کې مو په لامبو وهلو د بريتانيا جزيرې ته ځان رسولی وای، نو ستاسې له بوج نه به ټوله جزيره ډوبه شوې وه او بېرته به خپلواک خپل هېواد ته راستانه شوي وای.

په ۱۹۴٦ز کې ملگرو ملتونو د فلسطين د وېش اعلان وکړ او د يهودانو حکومت يې په رسميت وپېژانده. اسرائيل د ملگرو ملتونو د غړيتوب لپاره هم ونومول شو.

**شيخ حسن البناء** (۱۹۴۸- ۱۹۰٦) د خپل بارعبه شخصيت او زورور وعظ له امله اوسمهال په مصر کې ډېر مقبول رهبر گرځېدلی دی. هغه په دې مسئله باندې د وينا پر مهال وويل: «اې د مصر خلکو! همدا د پرون خبره

ketabton.com - The Digital Library

ده، چې د هیضې په وبا کې د مصر څلور زره وګړو له نس ناستې او استفراق نه خپل ژوند له لاسه ورکړ، او تاسې وزغمل. اوس څه شوي دي؟ آیا تاسې دا نه شئ زغملی، چې زموږ څلوېښت زره نور کسان دې هم زموږ د ښکلي فلسطین د خپلواکۍ په خاطر خپلې وینې توی کړي او د شهادت جام په سر واړوي؟»

دغسې واعظان په ټوله اسلامي نړۍ کې پیدا شول. په دې ټوله موده کې هېڅ داسې رهبر راپورته نه شو چې په علمي تحلیل او ساینسي ذهن سمبال وي. له هر یوه سره بس د شعر او وعظ توپان و. پایله یې ښکاره ده. هغسې چې د ښځو په ښکنځلو او ښېراوو د انګرېزي پوځونو په توپونو چینجي نه ګډېږي. د شاعرانو او واعظانو په لفاظیو هم د ملتونو جوړېدل امکان نه لري. او د یوې نیمې پېړۍ د زورورو چیغو هلې ځلې د دې خبرې د پخلي لپاره بیخي کافي دي.

## په خدايي قانون کې جانبداري نشته

د قبیله مخزوم یوه ښځه د غلا په جرم کې ونیول شوه. قضیه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړل شوه. د قبیلې خلک ډېر پرېشانه وو، چې له سزا نه یې څرنګه وژغوري. پخپله یې دومره زړه نه شوی کولی، چې نبي کریم ص ته یې سفارش وکړي. بلاخره یې حضرت اسامه په یو ډول راضي کړ. خلکو فکر کاوه، چې حضرت اسامه رض، نبي کریم ص ته ډېر ګران دی، نو ځکه د هغه خبره به ونه غورځوي. حضرت اسامه چې کله دا خبره وکړه، نو نبي کریم ص ډېر سخت خفه شو او له غوسې یې څېره تکه سره واوښته او ویې فرمایل:

«اسامه! آیا په خدايي حدونو کې سفارشونه کوې؟»

بیا یې ټول خلک راټول کړل، خطبه یې ورکړه او ویې فرمایل:

«له تاسې مخکیني په همدې تباه شول، چې درانه سړي به چې جرم وکړ، نو خوشي به یې کړ او چې یوه عادي سړي به جرم وکړ، نو سزا به یې ورکوله. په خدای قسم! که د محمد ص لور فاطمه رض هم غلا وکړي، د هغې به هم لاس پرې کړای شي.»

ketabton.com - The Digital Library

## بنده زیاتره وختونه د ځان په هکله په غلط فهمي کې مبتلا وي

**۱- سید محمد بن یوسف حسیني جونپوري** (۱۵۰۴- ۱۴۴۳ز) د خپلې زمانې وتلی او منلی بزرگ و. د الله تعالی په ذات باندې د ده ایمان دومره لوړ و، چې اعلان یې کړی و چې «که انسان په دنیا کې د خدای زیارت ونه کړي او الله تعالی د زړه یا سر په سترگو په خوب یا په ویښه کې ونه ویني، نو مؤمن نه دی.» د ده ژوندلیک لیکونکي په یوه خوله دي، چې په رښتینولۍ او عزیمت کې ډېرې لوړې درجې ته رسېدلی و. د لوړ استعداد، اغېزناک بزرگ و، د دعوت الی الله او هجرت في سبیل الله، سرښندنې او زهد او امر بالمعروف او نهی عن المنکر په برخه کې یې ساری په ډېر مشکل پیدا کېده.

خو د خپلې ټولې نېکۍ او بزرگۍ په خوا کې دا یوه تېروتنه ترې وشوه، چې دعوا یې وکړه، چې همدی هغه «امام مهدي» او «مهدي آخر زمان» دی چې په حدیثونو کې یې یادونه شوې ده او د مهدویه فرقې بنسټ یې کېښوده. د ده بزرگۍ او تقدس په خلکو کې دومره منلي وو، چې کله یې دعوا وکړه، نو د هغه په وخت هندوستان کې، تر افغانستانه پورې، ډېره زیاته غوغا جوړه شوه او له علماوو او پاچاهانو تر عامو خلکو پورې د مجلسونو او خبرو موضوع وگرځېده. خو وروستنیو نتایجو وښوده، چې د ده دا دعوا یوازې په توهم ولاړ وه.

**۲- محمد حامد** (۱۸۸۵- ۱۸۴۴) چې وروسته په مهدي سوډاني مشهور شو، د سوچه عربو له نسل څخه و. له زدکړو وروسته یې د تصوف دنیا ته تمایل پیدا شو. خپل جومات یې جوړ کړ او په گوشه نشیني کې یې خپل تعلیم او عبادت ته مخه کړه. دا چې شخصیت یې ډېر راښکونکی و، نو د مریدانو او شاگردانو شمېر یې ورځ تر بلې په زیاتېدو و او ډېر زیات شهرت یې پیدا کړ. خو همدا شهرت او مقبولیت د ده د غلطفهمي سبب شول. یوه مؤرخ لیکلي:

«**لما کثرا تباعه و مریدوه اعتقدانه المهدی المنتظر ثم اخذ ینشر دعوته و وزع منشورات علی الناس بانه الهمدی المنتظر.**» (جمال الدین افغانی – ۱۲۶مخ)

ژباړه: چې کله یې د لارویانو او مریدانو شمېر زیات شو، نو ده فکر وکړ، چې همدا زه مهدي یم او بیا یې د خپل دعوت خپرولو ته مخه کړه او په خلکو کې یې مشهوره کړه، چې امام مهدي همدا زه یم.

په دې زمانه کې په سوډان کې د انگرېزانو غلبه وه او هغوی هلته د ظلمونو سیورې غوړولی و او د مهدي کېدو له امله ده باید د انگرېزانو دغه فتنه له منځه وړې وای، چې په دې سره یې د خانقا ژوند د جنگ په ژوند بدل شو. او په لومړیو کې یې یو څه بریا هم په برخه شوه، خو بلاخره انگرېزانو د ده ډلې ته ماتې ورکړه او له ځپلو وروسته یې دی هم ختم کړ. او په دې سره انگرېزي توب په مهديتوب برلاسی شو.

ketabton.com - The Digital Library



**۳- ابوالکلام آزاد** (۱۹۵۸- ۱۸۸۸ز) ته خدای ډېر غیرعادي استعداد ورکړی و. خو د ده لاندې خبرې یوازې همدا زباتوي چې دی هم د ځان په هکله په سخته غلط فهمي کې مبتلا شوی و:

«د افسوس ځای دی چې زمانې زما له مغزو نه د کار اخیستو هېڅ چاره ونه کړه. غالب خو یوازې په خپلې شاعري پسې سرټکولی دی. خو نه پوهېږم چې له ماسره به قبر ته څه، څه شیان لاړ شي.

ځینې وختونه چې فکر کوم نو په طبیعت باندې مې د پښېمانې او درد یو عجیبه کیفیت نازل شي. د مذهب، علومو او فنونو، ادب او انشاء، شاعري هېڅ داسې دره به نه وي چې د فیضانونو مبدا یې بې شمېره لارې د دې نامراده بنده په زړه او ذهن نه وي وازې کړې او هره شېبه یې له پېرزوینو او لورېینو نه لمنه نه وي ور مالامال کړې. تر دې پورې چې هره ورځ ځان د معاني په دنیا کې په نوي مقام کې وینم او د هر منزل کرشمې د تېرو منزلونو د جلوو په وړاندې تتې وي، مگر افسوس هغه لاس چې د فکر او نظر په دې شتمني یې نازولی یم، هماغه لاس به ښايي د کار او عمل په ډگر کې تش لاسی پرې ایښی یم. زما د ژوند ټوله تراژیدي دا ده، چې زه د دې دیار او د دې زمانې سړی نه وم، خو همدې دیار او زمانې ته یې سپارلی یم.»

**۴- ابو طیب احمد بن حسین متنبي** (۳۵۴-۳۰۳هـ) په کوفه کې په یوه نېستمنه کورنۍ کې دنیا ته راغی. پلار یې د اوبو رسولو پیشه لرله. متنبي له کمکیني نه د ډېرې لوړې حوصلې سړی و او د لوی انسان کېدو هیله ورسره وه. همدغې جذبې لومړی د شاعري دنیا ته ورساوه، په دې چې په هغه زمانه کې د شهرت، شتمنۍ او مقام د ترلاسې تر ټولو اسانه لاره شاعري وه. خو په شاعرېدو د ده طبیعت قناعت ونه کړ او د پاچا کېدو خوبونه یې پیل کړل او خلک یې د خپل خلافت بیعت ته ولمسول. د بیعت هیله یې پوره شوې وه، چې د سیمې والي یې له دې ارادې نه خبر شو. دی یې ونیوه او بندي یې کړ. متنبي له زندان نه د والي په نوم یوه قصیده واستوله او د خپلې بښنې هیله یې په کې څرگنده کړه. والي بېرته خوشي کړ.

خو د لویوالي ډېوه یې لا هم په سر کې تته شوې نه وه. او یوه بله لاره یې وسنجوله. په شام کې یې د نبوت دعوا وکړه. د خپلې سحربیاني او ادبي زور په مټ یې ډېر زیات خلک د ځان عقیدتمندان کړل. له متنبي نه د نبي کریم ص په هکله پوښتنه وشوه، نو ځواب یې ورکړ، چې پخپله نبي کریم ص هم زما د راتلو زېری ورکړی دی او فرمایلي یې دي، چې «**لا نبي بعدي**.» د دې حدیث معنا دا ده، چې له ما ورسته بل نبي نشته. خو متنبي د متن اعراب وربدل کړل او دا معنا یې ترې وباسله، چې له ما وروسته به د «لا» په نوم شخص پیغمبر شي او زما نوم په اسمان کې «لا» دی. ده د قرآن کریم په مقابله کې خپل یو څه کلام هم وړاندې کړ.

د ده دعوا چې مشهوره شوه، د اخشیدیې واکمن امیرحمص راونیوه او زندان ته یې واچاوه. متنبي ډېر

ketabton.com - The Digital Library

پرېشانه شو او د نبوت له ادعا نه یې توبه کړه او ازادي یې ترلاسه کړه. په دې سره یې د معتقدینو کړی هم ماته شوه. تر دې وروسته به یې د باچاهانو مدحې لیکلې او پیسې به یې پرې ګټلې. خو د ځان لپاره د سرداري مزاج به بیا بیاځلې له خپل ممدوح سره مخامخ کړی و او په پای کې عضد الدوله (شیراز) له منځه یووړ. حال دا چې تر دې مخکې یې د ده مدحه لیکلې وه او انعام او اکرام یې هم ترې اخیستي وو.

## د «ادب» تحقیق

**د یوه حدیث الفاظ په دې ډول دي:**

«ادبني ربي فاحسن تأدیبی» **یانې زما رب زما تربیه وکړه او ډېره ښه تربیه یې وکړه. له دې نه ښکاري، چې د ادب کلمه په لرغوني عرب کې هم کارېدله. خو په دې کې اختلاف دی، چې ادب وییکی (د ادبیاتو په معنا) له کومې کلمې نه راغلی دی.**

**عام فکر دا دی، چې له اَدبً نه راوتلی چې معنا یې مېلمستیا ته بلنه ده. خو فرانسوی مستشرق پروفیسور نلینو د دې لفظ د جرړې په هکله یو بل نظر لري. دی ادب له دآب څخه (د عادت په معنا) مشتق شوی ګڼي.**

**د ده په وینا، د ادب کلمه له مفرد څخه نه، بلکې له دآب جمع څخه راوتلې ده، د دآب جمع اَدآب دی، چې وروسته په اداب بدله شوې، لکه د بئر او رئم جمع حالتونه چې له اَبآر او اَرآم نه په آبار او آرام بدل شوي دي.**

**د ده په نزد د دآب د جمع آداب استعمال دومره عام شو، چې عربو د دې جمع حالت اصلي بڼه او په دې کې شوي بدلونونه هېر کړل.**

**او فکر یې وکړ، چې آداب داسې جمع ده، چې هېڅ تغییر په کې نه دی راغلی او له دې جمع نه یې د دآب مفرد صیغې په ځای ادب راوایستله او ادب د عادت په معنا دود شوه. له دې وروسته دا کلمه له خپلې اصلي معنا نه نورو مختلفو معناوو ته پسې اوښتله.**

## د دین تبلیغ یې کاوه او هر ډول کړاوونه یې ګالل



د بني سلیم صحابي منیب وایي چې زه (د جاهلیت په زمانه کې) حج ته تللی وم. د عرفات په میدان کې مې ولیدل چې یوه ځوان سره چپنه اغوستې او له ځان سره وایي: «**یایها الناس وحدوا الله تفلحوا یایهاالناس قولوا لا اله الا الله تفلحوا.**» یانې اې خلکو! الله یو وګڼئ، کامیاب به شئ. اې خلکو! لا اله الا الله ووایئ، کامیاب به شئ.

خو یو بل کس دی په کاڼو ولي او وایي «**یایها الناس لاتسمعوا انه کذاب**» یانې اې خلکو! خبرې ته یې غوږ مه نیسئ، دی لوی دروغجن دی.

ما ترې وپوښتل چې دا سړی څوک دی؟ وویل شوو، چې دا سړی د قریشو ځوان دی، چې د پیغمبري دعوا کوي او دا بل کاڼي ویشتونکی یې تره ابو لهب دی.

دا ډول ډېرې زیاتې پېښې ترسره شوې دي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم درویشت کاله د دین تبلیغ وکړ او راز راز ظلمونه یې وګالل. بیا بیا ځلې به د الله تعالی له لوري ټینګار کېده، چې **واصبرو ماصبرک الا بالله ولاتحزن علیهم ولا تکن في ضیق مما یمکرون، ان الله مع الذین اتقوا والذین هم محسنون.** په بل ځای کې ویل شوي: **ولا تستوی الحسنة ولا السیئة ادفع بالتی هی احسن.**

صبر وکړه او زغم ولره، مه غمجن کېږه، سینه دې مه تنګوه، بدي او نېکي دواړه برابر نه دي، د کاڼي ځواب په کاڼي او د ښکنځا ځواب په ښکنځا مه ورکوه، بلکې د کاڼي ځواب په ګل

ketabton.com - The Digital Library

ورکوه، د ښکنځا ځواب په ستاینه ورکوه، **و اذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاما**، چې کله له ناپوهانو سره مخ شوې، نو سلام ورته کوه او خپله لاره وهه. د مکې دیارلس کلن ژوند په دې ډول تېر شو.

کفارو ظلمونه کول او پیغمبر ص د صبر لمنه ټینګه کړې وه. بیا یې مدینې ته هجرت وکړ. له هر شي تېر شو، خپل راحت او کور او وطن هر څه یې پرېښودل.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوازې د توحید تبلیغ کاوه. د چا مال یې نه دی تروړلی، د چا په عزت یې حمله نه ده کړې. یوازې د **لا اله الا الله** دعوت یې کړی. درویشت کاله یې په هره طریقه خلک وپوهول، اصلاح یې کړل، په وروستۍ خطبه کې یې شاوخوا د یو لک او پنځه ویشت زره صحابه کرامو په منځ کې په اوښ باندې په ناسته یوه عظیمه خطبه ورکړه چې ډېره اوږده وه. ګواکې د درویشتو کلونو د تعلیم خلاصه یې وړاندې کړه. بیا یې درې ځله وفرمایل: «**الا هل بلغت؟**» آیا ما د الله تعالی احکام در ورسول؟ ټولو په یوه ژبه درې ځله وویل: «**قد بلغتنا ونصحتنا**» بې شکه د الله تعالی احکام مو تبلیغ کړل. بیا یې درې ځله وفرمایل: «**اللهم اشهد**» اې الله! ته ګواه اوسه چې ما ستا خبره ورسوله.

# معاصر ساینس د قران علمِ کلام دی

اسلامي دولت په پیل کې په مدینه کې د اوومې میلادي پېړۍ په لومړنۍ ربعه کې رامنځته شو. له هغې ورځې نه د نولسمې پېړۍ تر پایه پورې اسلامي شریعت د ځمکې په لویه برخه کې له هر ډول اختلافاتو پرته نافذ و. په دې دیارلسو پېړیو کې په ټولنیز ژوند کې لوی، لوی انقلابونه راغلل، خو هېڅ کله دا سوال پیدا نه شو، چې اسلامي شریعت د یوې ټاکلې زماني لپاره و، او د هرې زمانې او سیمې لپاره مناسب نه دی. د مدینې ابتدایي حکومت، یو ساده عربي حکومت و، چې د اسلام پیغمبر اسلامي قانون په کې پلي کړ. د راشده خلافت په زمانه کې د شام، مصر، عراق، ایران، فلسطین متمدنې سیمې د دې قانون تر سیوري لاندې راغلې. خو عمر فاروق او علی مرتضی هم هېڅ کله له دې مشکل سره مخ نه شول، چې اسلامي شریعت ته له نویو حالاتو سره تطابق ورکړي. په عباسي دور کې یوې خواته د اسلامي سلطنت سیاسي قلمرو دومره پراخه شو، چې په اسمان کې د وربځې یوې ټوټې ته په کتو هارون الرشید په لوی زړه دا خبره وکړه، چې **امطری حیث شئت فسیأتنی خراجک** (چېرته چې ورېږې، زړه

ketabton.com - The Digital Library

دې، خو ستا خراج به ماته راځي)؛ بلې خواته د یونان، مصر، هند، چین علوم له نوي سره راژوندي شوو او اسلامي معاشره د علم او فن له پلوه یوه نوي پړاو ته ننوته.

خو قاضي ابو یوسف په دې برخه کې پوره بریالی و، چې د خپل وخت د تر ټولو ستر او تر ټولو متمدن سلطنت نظام د اسلامي شریعت په بنیاد وچلوي. له هغه وروسته د مغلو او ترکانو دوره راغله او د اسیا، افریقا او اروپا لویې برخې د اسلام تر چتر لاندې راغلې. خو د مغلو په زمانه کې د **عالمگیري فتاوا** او د ترکانو په زمانه کې د **المجلة العثمانیة** تدوین او ترتیب دا ثابتوي، چې دوی هېڅ کله شریعت د خپلو پېچلو شویو قانوني مسایلو پر وړاندې عاجز نه دی موندلی.

نو بیا څه وجه ده، چې په شلمه پېړۍ کې موږ دا اوازې اورو، چې «اسلامي شریعت د هرې زمانې او سیمې لپاره مناسب نه دی.» د دې وجه د مستشرقینو پروپاګند نه دی، هغسې چې ځینې ساده خلک فکر کوي. بلکې د دې وجه هغه نړیوال فکري انقلاب دی، چې د عصري ساینس په مټ زېږېدلی دی. هره زمانه خپل مخکښ او غالب



فکرطرز لري. د هماغه په سیوري کې فکرونه جوړېږي، په هره مسئله کې د هماغه له مخې پرېکړې کېږي. څو سوه کاله دمخه د نړۍ فکرطرز په مابعدالطبیعاتي بنیادونو ودان و. له تېرو ټولو معلومو زمانو نه همدا فکرطرز راروان و. او د همدې په اساس به ټول نظریات وړاندې کېدل. ساینس په تاریخ کې لومړی ځل دغه فکرطرز له خپل

ketabton.com - The Digital Library

مقامه وغورځاوه او ساینسي فکرطرز ته یې مخکښ او غالب حیثیت ورکړ. د مذهب او معاصر ذهن په منځ کې د اوسنۍ زمانې ټولې ربړې او کشالې په حقیقت کې د همدې فکري بدلانه نتایج دي.

په لرغونې زمانه کې فلسفې ته د علومو د ملکې (**Queen Of Art**) په سترګه کتل کېدل. د معاصر ساینس له راتلو وروسته فلسفې خپل پخوانی مقام وبایله. د دې وجه دا ده، چې د ساینس څرګندونې له تخنیکي پلوه له اکمال نه برخمني دي، خو فلسفه دا خوی او خاصیت نه لري. ساینس د خپلې همدې ځانګړنې په مټ په ټولو علومو غالب شو او د یوې حتمي پایلې په توګه هغه فکرطرز منځته راغی، چې په عامه توګه یې ایجابیت (یا پازیټویزم) بولي. یانې د محسوسو او لیدو وړ پېښو په اساس خپل نظر څرګندول. د لرغوني مابعدالطبیعاتي فکرطرز لپاره دا هېڅ بعیده نه وه، چې روح له آسمان نه راښکته شوی نامریي شی وګڼي او د همدې فرضیې له مخې بیا انساني چلند توجیه کړي، خو معاصر ذهن غوښتل، چې «د نورو پدیدو غوندې» روح هم د اندازه ګیري یا کمیت په ژبه بیان کړي. معاصر ذهن وویل، چې روح، د طبیعي او کیمیاوي مادو د عمل او عکس العمل په نتیجه کې زېږېدلی لنډمهالی کیفیت دی، کټ مټ هماغسې لکه په هوا کې چې د دوو ځانګو له سولېدو نه اواز پیدا کېږي.

د غیرطبیعي پېښو لپاره د طبیعي تعبیراتو لټوونکی دغه ذهن تر مذهبه پورې هم ورسېده. د ساینسي ابزارو په مټ له اسمان سره د مذهب د ارتباط مشاهده ممکنه نه وه، البته د مذهب هغه خارجي ښکارندې انسان په خپلو سترګو لیدلې شوې، چې په هره زمانه کې په بشري ټولنو کې د مذهب په نوم پاتې شوې وې. له همدې امله دوی همدا خارجي ښکارندې په مذهب باندې د پوهېدو اساس وګرځولې. طبعا د دې پایله دا وه، چې مذهب د خداپېوهنې (تیولوژي) په ځای د بشرپوهنې (انتروپولوژي) د مطالعې په ډګر واوښته او په مذهب باندې د پوهېدو سرچینه بشري ټولنه وګرځېده، حال دا چې تر دې پخوا مذهب له اسمان نه ماخوذ بلل کېده. دا تبدیلي کومه عادي تبدیلي نه وه. دا همداسې وه لکه د ریاض دغه سیمینار چې د اسلامي شریعت په موضوع باندې جوړ شوی دی، مؤرخین د «کورنیو توکو» د تاریخ په خانه کې واچوي او په راتلونکې کې یې د همدې کورنیو توکو تر عنوان لاندې مطالعه وشي.

نن ورځ چې یو څوک وایي، چې «**مذهب او شریعت زماني شیان دي**»، نو په نورو ټکو کې د دې خبرې معنا دا جوړېږي، چې مذهب او شریعت د ټولنیزو عواملو په سیوري کې منځته راځي. او دا معلومه خبره ده، چې د ټولنیزو عواملو تر سیوري لاندې جوړ شوي شیان زماني حیثیت لري. جامې او فرنیچر په هره زمانه کې یو شان نه شي کېدلی. د همدې لپاره مذهب او شریعت هم په طبیعي توګه د یوې زمانې بچوني دي. خو که انسان مذهب له دې زاویې مطالعه کړی وای، چې د مذهب مصدر او سرچینه هماغه لازواله حقیقت دی، چې د نباتاتو وده، د حیواناتو پیدایښت او د ستورو حرکت یې په واک کې دي، نو بیا به یې لیدلي وو، چې مذهب یو ابدي حقیقت دی، هغسې چې د طبیعي ساینس او بیولوژي قوانین ابدي دي. خو مذهب یې چې «د ټولنیزو علومو» موضوع وګرځوله، نو ټوله کیسه ورسره بدله شوه.

د بشري تاریخ دغه فکري اوښتون چې په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې منځته راغی، د اسلام لپاره یې ډېر زیات پرېکنده حیثیت درلوده. اړتیا وه، چې اسلامي ملتونه د دې سېلاب پر وړاندې د ځوابي سېلاب غوندې راپورته شوي

ketabton.com - The Digital Library

وای او د تاریخ لوری یې د اسلام مطلوب لوري ته اړولی وای. خو متاسفانه زموږ مصلحینو د مسئلې اصلي نوعیت ونه شو پېژندلی. هغوی ټوله معامله د استعمار زبېرنده او سیاسي ربړه وګڼله او د دوو سوو کلونو ډېره ګرانبیه موده یې مازې په سیاسي غوغاوو کې برباده کړه او ومو نه شو کولی چې د اوسني عصر له پېژندو وروسته د دې عصر مطابق د خپلو اسلامي هلو ځلو لپاره سمه طرحه او میکانیزم برابر کړو.

دا ننګونه چې په اوسنی زمانه کې اسلام ته وړپېښه شوه، له یو څه بدلون سره د اسلام په ابتدایي زمانه کې هم پېښه شوې وه. په اوومه میلادي پېړۍ کې چې اسلام له کومې نړۍ سره مخامخ شو، هغه د شرک نړۍ وه. په بېلابېلو سیمو او قومونو کې د خدای پیغمبران راغلل. هغوی ټولو په یوه خوله خلک توحید ته راوبلل. خو نړیوال نړۍلید د توحید دعوت رد کړ او د ژوند ټولې څانګې د شرک په بنسټونه ورغېدې. په دې زمانه کې شرک دومره زورور و، چې چا به د توحید نعره پورته کړه، په آرې به یې څیري کړ. چېرته چې د وخت اقتصاد د خدایانو په نوم په جوړېدونکو بازارونو پورې تړلی وي، او چېرته چې یو پاچا د حکومت حق په دې خبره ترلاسه کوي، چې ګنې د پلاني خدای زوی دی، هلته به د توحید پیغام څرنګه زغمل شوی و؟ په دې وخت کې الله تعالی خپل پیغمبر راواستاوه او د «**لیظهره علی الدین کله**» نسبت یې ورپه برخه کړ. د الله تعالی د دې نصرت په زور د اسلام استازي د توحید له پیغام سره راپورته شوو او خپل پیغام یې په دومره ځواکمن انداز خپور کړ، چې د انسانیت قافله په یوه نوې لاره روانه شوه. د لندن په یوه انسائیکلوپیډیا (۱۹۷۴) کې د «اسلام» په نوم د مقالې لیکوال دې حقیقت ته په لاندې ټکو کې غاړه ایښې ده او لیکلي یې دي، چې اسلام د تاریخ لوری ور بدل کړ.

**ISLAM CHANGED THE COURSE OF HUMAN HISTORY**

اسلام د بشریت په تاریخ کومې انقلابي اغېزې وشیندلې، دا یوه جلا او لویه موضوع ده. خو د مثال لپاره به یې دلته یوازې یوې پېښې ته تم شو. آرنولډ ټاینبي لیکلي دي، چې د فطرت ځواکونه له لومړۍ ورځې نه د ځمکې پر مخ موجود وو. نو بیا څه وجه ده، چې یوازې له دې اوسني ساینسي انقلاب وروسته دا ځواکونه مهار شول؟ بیا یې پخپله ځواب هم ویلی دی، چې د دې تسخیر پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ شرک (د ښکارندو د لمانځنې) عقیده وه، چې په تېرو ټولو زمانو کې د غالب فکر په توګه په انسان غوړېدلې وه. د شرک په عقیده کې د فطرت ټول ځواکونه خدایان ګرځېدلي وو. د مشرک انسان په نزد دا ځواکونه د لمانځنې موضوع وو، نه د مهارونې موضوع. دا په ټوله کې د توحید د عقیدې لاسته راوړنه ده، چې انسان دې ځواکونو ته د ځان په څېر د مخلوق په سترګه وکتل او د ځان په ګټه یې مهار کړل.

بدقسمتي دا ده، چې په اوسنی زمانه کې مسلمانانو د معاصر الحاد په مبارزه کې هغه دنده ترسره نه شوه کړای، چې د دوی اسلافو د لرغوني شرک په مقابله کې ترسره کړې وه. که نه و، نن ورځ به مو نه یوازې دفاعي موقف نه درلوده، بلکې پخپله د انسانیت تاریخ به هم په بل ډول وای، هغسې چې زرکاله پخوا زموږ اسلافو د الله تعالی په مرستې سره د نړۍ تاریخ بدل کړ.

مګر الله تعالی په هر کار باندې وسي دی. هغه ذات د بشري دنیا ټولې پېښې همېش څاري، او له خپلې پربکړې سره سم د حق سپیناوی او د باطل تردید هم پخپله کوي. هغه کار چې مسلمانان یې په کولو کې پاتې راغلل، هغه

ketabton.com - The Digital Library

الله تعالی په ډېرې حیرانتیا سره، پخپله د غربي قومونو په لاس ترسره کړ. د غربي ساینس وروستیو څېړنو هغه ټول فکري بنیادونه له منځه یووړل، چې د مذهب او شریعت د بې اساسه ثابتولو یا په زمان پورې د محدودولو لپاره معاصر علم وضع کړي وو.

د دې لپاره چې انسان له ګمراه کېدو وژغوري، قرآن کریم دوو ډېرو اساسي خبرو ته اشاره کړې ده. یو دا چې انسان ته پکار ده، چې حقیقت ته په غیبي ډول غاړه کېږدي او که یې ټینګار هم وکړ، چې نېغ په نېغه د حقیقت مشاهده وکړي، نو بیا هم حقیقت ته نه شي رسېدلی، «**هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ.**»

بله دا چې انسان ته پکار ده، چې دا واقعیت ومني، چې دی د خپل ژوند قانون د خپلې پوهې په زور نه شي کشف کولی او که هڅه وکړي، چې خپل قانون په خپله وضع کړي، نو دا به له واقعیت سره په بشپړ کې تضاد کې وي «**وَلاَ تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَـذَا حَلاَلٌ وَهَـذَا حَرَامٌ.**»

په اوسني دور کې دې دواړو خبرو ته د مذهبي خوشباورۍ په سترګه کتل کېږي او ویل شوي دي، چې د دې دواړو خبرو ترشا هېڅ علمي اساس نشته. خو د ساینس وروستنیو موندنو په هیښوونکي ډول دا ثابته کړه، چې د انسان لپاره یوازېنی د عمل وړ روش هماغه دی، چې قرآن کریم په ګوته کړی. له دې پرته بل هېڅ راز موقف له علمي پلوه د انسان لپاره کارنده نه شي کېدلی.

یهودو درې زره کاله پخوا خپل نبي ته ویلي و، چې «**ارنا الله جهرة.**» بالکل همدا خبره په اوسنۍ زمانه کې د علم په نوم بیا تکرار شوه. د ساینسي ابزارو په مټ چې کله انسان په بې شمېره داسې پټو حقایقو پوه شو، چې پخوا پرې نه شوای پوهېدلی، نو وویل شوو، چې ساینس د بشري حواسو محدودیتونه جبران کړل او اوس هر موجود شی باید د انسان د مخامخ مشاهدې جوګه وي او که یو شی د ساینسي وسایلو له استعمال وروسته هم ستاسې په مشاهده کې نه راځي، نو د دې معنا دا ده، چې هغه شی اصلاً وجود نه لري. کله چې معلومه شوه، چې ساینسي آلات له مایکروسکوپیکو چینجیو نه نه نیولې د لرې لرې اجرامو په لیدو هم بریالي شوو، خو مذهبي حقایق یې په مشاهده کې رانه‌غلل، نو ویې انګېرله چې ګنې مذهبي حقایق هېڅ حقیقت نه لري.

خو د شلمې پېړۍ اغاز د پاسني ذهن د خاتمې په معنا شو. د هغې نظریې ناکامي چې رڼا یې د ذراتو مجموعه ګڼلې وه، دا وښوده، چې په کایناتو کې ګڼ داسې حقیقتونه شته، چې په طبیعي اصطلاحاتو کې هېڅ د بیان وړ نه دي. د اتوم له تجزیې وروسته معلومه شوه، چې ځیزونه له ساده ساینسي اټکلونو نه خورا پېچلي دي. موږ چې څومره ځیزونه لیدلی شو، تر هغو ډېر لوی شمېر د هغو شیانو دی، چې زموږ د آلاتو په ګرفت کې نه راځي. تر دې چې د بلېک هول نظریې مطابق پخپله د کثیفو جسمونو هم یوازې درې سلنه برخه زموږ لپاره د مشاهدې وړ ده، پاتې ۹۷ سلنه برخه هغه ده، چې هېڅ کله یې نه شو لیدلی.

کله چې کاینات تر هغو شیانو د ډېر لوی شمېر شیانو مجموعه ده، چې موږ یې نېغ په نېغه مشاهده کولی شو، نو د پاتې نه لیدونکو شیانو د پوهې وسیله بیا څه شی ده؟ دلته ساینسپوهان د علم په ذرایعو کې د مشاهدې (**Observation**) په خوا کې د استنباط (**Inference**) ور زیاتولو ته هم اړ شول. که د لومړني دور سمبول نیوټن

ketabton.com - The Digital Library

و، نو د دوهم دور سمبول اینسټاین وګرځېده. په دې برخه کې د اینسټاین د نظریاتو لنډیز په دې ټکو کې بیان شوی دی:

**IN DEALING WITH THE ETERNAL VERITIES, THE AREA OF EXPERIMENT IS RDUCED AND THAT OF CONTEMPLATION ENHANCED.**

په دې ډول ګواکې ساینس دې واقعیت ته غاړه کېښوده، چې انسان د ایمان بالغیب (د ظاهر په لیدو د حقایقو منلو) له روش پرته بله هېڅ چاره نه لري.

د علم په نظریه (**Theory of Knowledge**) کې دا تبدیلي کومه عادي تبدیلي نه وه. دې بدلون د حقایقو هغه دره پرانیسته چې له دوو سوو کلونو راهیسې بنده پرته وه. ساینس چې کوم کاینات کشف کړی و، هغه په هیښوونکي ډول خورا بامعنا کاینات و. او له خپل ټول وجود سره یې د یوې توجیه (**Explanation**) غوښتنه کوله. خو توجیه د خپل نوعیت له مخې استنباطي شی دی نه مشاهداتي. ځکه خو د نولسمې پېړۍ تر پایه پورې ساینس له دې کار نه په تېښته کې و. خو چې کله یې «استنباط» هم د ساینسي علم په ډله کې ورګډ کړ، نو اوس ساینس هم د استنباطي توجیه صداقت ته غاړه ایښې ده. اوس وخت رسېدلی دی، چې د نیوټن هغه خبره بېرته تکرار کړو، چې د کایناتو تر شا یو خدایي لاس (**Divine Arm**) کار کوي. د حرکت، ژوند، حسن، معنویت، حکمت، عظمت او مرموزو خواصو هغه ټولګه چې د کایناتو په نوم یې پېژنو، د هغه لپاره له دې پرته هېڅ بله توجیه نه جوړېږي، چې د یوه ژوندي او باشعوره خدای لاس په‌کې ونه منو. حقیقت دا دی، چې استنباطي استدلال یې چې کله د استدلال د روا میتود په توګه ومانه، له هغه وروسته ټول ساینس د قرآن کریم لپاره یو علمِ کلام وګرځېده. اوس ساینس قرآني عقاید په علمي کچه په ثبوت رسوي. کمی یوازې دا دی، چې د ساینس موندنې لا تر اوسه هم د قرآني کلام او منطق له مخې نه دي ترتیب شوې.

دلته به یې په مثال کې یوازې یوه حواله ورکړو. معاصر ساینس موندلي دي، چې د کایناتو هر شی خپله یوه جوړه لري. د مقناطیس یوه ټوټه چې په منځ ماته کړو، نو سمدستي د شمال او جنوب دوه قطبونه په‌کې پیدا کېږي. په همدې توګه هر شی په جوړه یې ډول خپل وجود ته دوام ورکوي. هره ذره، انټي ذره؛ هر اټوم، انټي اټوم؛ تر دې پورې چې دا نړۍ هم انټي نړۍ لري. تر هغو چې انټي دنیا ونه منو، د دنیا تصور هم نه شو کولی. باور دا دی، چې د اوسنۍ دنیا په داخل کې یوه بله متوازي دنیا هم شته او دواړه دنیاوې له یو بل سره نښتې دي. او بیا دا چې هغه بله نړۍ (انټي نړۍ) زموږ د اوسنۍ دنیا په پرتله یو څه زیات خواص لري. مثلاً زموږ دنیا فاني ده، خو هغه بله دنیا (انټي دنیا) په ځان کې د بقا وړتیا لري. او داسې نور.

دا په هیښوونکي ډول د قرآن کریم تصدیق کوي. په قرآن کریم کې ویل شوي و «**وَمِن كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ**» یانې په دنیا کې مو هر شی داسې پیدا کړي دي، چې له جوړې پرته یې وجود ناشونی دی، تر څو تاسې غور په کې وکړئ او دې حقیقت ته ورسېږئ چې دا دنیا هم اورمرو باید یوه جوړه ولري، او هغه آخرت دی.

ketabton.com - The Digital Library

همدا په اوسنی زمانه کې د ټولو ساینسي موندنو حال دی. دا موندنې په حقیقت کې په کایناتو کې د پټو «**آلاء الله**» ظهور دي. دا موندنې د هغې وړاندوینې ځواب دی، چې په قرآن کریم کې دیارلس سوه کاله پخوا ویل شوې وه: «**سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ.**»

د اوسنیو موندنو بل اړخ دا دی، چې دې موندنو تر وروستي بریده د دې خبرې سپیناوی وکړ، چې انسان د خپل ژوند قانون په خپله نه شي وضع کولی.

دا خبره اوس له شک نه وتلې ده، چې بشري وسایل او ابزار یوازې انسان تر جزوي علم پورې رسوي. د دې واقعیت تر ټولو بامعنا اړخ دا دی، چې هغه خبرې چې زموږ په پوهه کې نه راځي، هغه د خپل نوعیت له پلوه تر هغو خبرو ډېرې ارزښتناکې دي، چې زموږ د علم برخه ګرځي. مثلاً دا معلومه شوې ده، چې د راډیوم الکترونونه تجزیه کېږي. تر دې چې یو داسې وخت رسېږي، چې راډیوم په یوه غیرشعاعي عنصر بدلېږي. دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې الکترونونه ولې تجزیه کېږي؟ هغه کوم ځواک دی، چې د بې شمېره الکترونونو په منځ کې د یوه الکترون لپاره په ټاکلي وخت کې راځي او د تجزیې سبب یې ګرځي. د دې مهمې پوښتنې په باره کې د ساینسپوهانو ټولې انګېرنې او اټکلونه ناسم ثابت شوي دي. تر دې چې یوه ساینسپوه له ناچارۍ ویلي دي، چې دا به ښایي د خدایانو په واک کې وي، بیا چې دا خدایان هر څه وي، فرق نه کوي.»

همدا د ټولو شیانو حال دی. د یوه ساینسپوه په قول:

**THE IMPORTANT IS UNKNOWABLE, AND THE KNOWABLE IS UNIMPORTANT.**

(مهم د پوهېدو وړ نه دي، او د پوهېدو وړ مهم نه دي.)

دغه خبره چې د ساینسي نړۍ په هکله کشف شوې ده، د هغې مسئلې په برخه کې خورا ډېر ارزښت لري، چې موږ یې د «**انساني قانون مسئله**» بولو. په دې چې انسان، د راډیوم د یوې ټوټې په پرتله ډېر زیات پېچلی موجود دی. نو موږ چې د یوې فلزي ټوټې قانون په سمه توګه نه شو کشف کولی، نو **د انساني ژوند قانون څرنګه معلومولی شو؟**

ساینس په ډاګه کړې ده، چې د انسان وجود تر هغه ډېر پېچلی دی، چې په پخوا زمانو کې یې تصور کېده. حقیقت دا دی، چې انسان یو داسې مخلوق دی، چې په ټول کاینات پورې تعلق نیسي. انسان په یوه وخت کې د حجراتو له علم نه نیولې تر ستورپوهنې او له ارواپوهنې نه نیولې تر اقتصادپوهنې پورې د بې شمېره علومو سوژه ده. په نورو ټکو کې ویلی شو، چې په انسان باندې د سم پوهاوي لپاره د ټول کاینات علم پکار دی. خو په همدې وخت کې څېړنو دا هم ښودله، چې انسان له ځینو داسې لازمي محدودیتونو سره هم لاس و ګرېوان دی، چې د هغو له وجې دا ممکنه نه ده، چې هغه دې حقیقت په خپله پراخه او هراړخیزه بڼه ولیدلی شي. په نولسمه پېړۍ کې د انساني قانون د مطالعې لپاره د «ټولنیزي انجینري» اصطلاح وکارول شوه. یانې هغسې چې یو انجینر د اوسپنیز

ketabton.com - The Digital Library

ماشین لپاره پایداره او نه بدلېدونکي قوانین وضع کوي، په همدې ډول به حقوقپوهان هم د انساني ژوند لپاره د قانوني ساختمان په جوړولو کې بریالي شي. خو د انساني قانون لپاره د یوه ټولمنلي معیار موندنه له بشپړې ماتې سره مخ شوه. تر دې چې د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې مو په دې نومونو هم کتابونه ولوستل، چې «**قانون د خپل ځان په لټون کې – Law in quest of itself**.»

قانونپوهنې (**Jurisprudence**) له اوږدو پلټنو وروسته بلاخره دا خبره منلې ده، چې په سوچه علمي طریقه د ژوند قانون موندل د انسان لپاره ناشونی دی او زموږ بیولوژیکي او ذهني محدودیتونه په دې لاره کې ډېر رغنده خنډ جوړوي. جارج وایټ کراس په دې خبره اعتراف کړی دی، چې د قانوني معیارونو د ټولنلې مجموعې یوازینی عملي صورت همدا دی، چې اسماني وحي د قانون د وروستي ماخذ په توګه ومنل شي.

په نولسمه پېړۍ کې چې په غرب کې د ټولنیز قانون څومره فلسفې ایجاد شوې، ټولو په یو نه یو ډول د دې خبرې ادعا کوله، چې ټولنیز قانون، د طبیعي قانون په څېر په طبیعي ډول په ټولنه کې موجود وي. زموږ دنده یوازې دا ده، چې هغه قانون راکشف کړو. په نورو ټکو کې د دې خبرې معنا دا وه، چې ټولنیز قانون هم هماغسې ابدي دی، څرنګه چې زموږ د بخار او برق قوانین ابدي دي. خو دا ټولې فلسفې د اجتماعي قانون په کشف کې پاتې راغلې. مګر زه به ووایم، چې له اصولي پلوه د دوی دریځ سم و. د دوی تېروتنه دا وه، چې د یوه سم شي لپاره یې په غلط ځای کې پلټنه کوله. دا واقعیت دی، چې د انساني ژوند قانون هم، د ساینس او بیولوژي د قوانینو په څېر په ابدي ډول ټاکلی دی، خو د دې قانون د لټون ځای الهي وحي ده، نه هغه انساني علوم، چې د هغو په اړه موږ په خپله دې پایلې ته رسېدلي یو، چې دغه علوم له جزوي معلوماتو پرته نور هېڅ هم نه راکوي.

له الهي سرچینې نه د انساني قانون د ترلاسي معنا په نورو ټکو کې دا ده، چې دا قانون باید کایناتي حیثیت ولري. یانې هغه سرچینه چې ټول کاینات ترې خپل قانون اخلي، انسان هم خپل قانون له هماغه ځایه ترلاسه کړي. په دې سره انساني قانون د ابدیت تر سیوري لاندې راځي. د کایناتي قانون په تړاو معلومه ده، چې هېڅ ډول بدلون نه مني. د جذب هغه قانون چې له مخې یې د دوو ګازونو له ترکیب څخه اوبه لاسته راځي او د تودوخې هغه قانون چې له مخې یې د اوبو مالیکونه تجزیه کېږي او د بخاراتو په ډول په هوا کې الوځي. هغه په هر ځای او هره زمانه کې یو ډول دي. نو د خدای قوانین چې په طبیعي او بیولوژي دنیا کې ابدي دي، نو د انساني ټولنې لپاره یې قوانین څرنګه غیر ابدي یا مؤقتي کېدلی شي؟ له یوه ماخذ نه راوتلي دوه قوانین دوه جلا، جلا نوعیتونه نه شي لرلی. حقیقت دا دی، چې د یوه قانون سرچینه چې خدای ومنل شي، نو پخپله همدا خبره یو قانون د زمان او مکان له ټولو قیدونو ازادوي.

کایناتي قانون خپل ابدیت د دې باوجود هېڅ کله له لاسه نه ورکوي، چې هره شېبه په کاینات کې ډول، ډول تغییرات لیدل کېږي. په پخوا زمانه کې انسان د ستورو په هکله عقیده لرله، چې د ورځې په اوږدو کې هېڅ وجود نه لري او ستوري هغه شپني قندیلونه دي، چې په اسمان باندې د خدایانو لپاره ځلېږي. دغه راز د سپوږمۍ کمېدل او زیاتېدل یې هم په واقعي معنا ګڼلې وه. د لمر په اړه یې خیال و، چې سهار «راخېژي» او مابنام بېرته «لوېږي». دا ټول تغییرات نن ورځ یوازې د سترګو فرېب ثابت شوي دي. خو اوسني انسان تر دې نور هم ډېر ستر بدلونونه

ketabton.com - The Digital Library

مشاهده کړي دي. خو موږ پوهېږو، چې دغه ظاهري تغييرات د قوانينو په ابديت باندې هېڅ راز اغېزه نه شيندي. د بيولوژي نړۍ، د اوسنيو موندنو مطابق، پرلپسې له بدلونونو سره مخ وي. د حجراتو علم وښودله، چې د انساني جسم ټول غړي، له وېښتانو او نوکانو نيولې تر غوښې او وينې پورې هره شېبه د بدلون په حال کې دي. په دې سربېره هېڅ ساينسپوه دا غوښتنه نه ده کړې، چې د بيولوژي يا حجراتو علم دې هر کال بدل شي، او بيا بيا ځلې دې له نويو «حالاتو» سره سم تدوين شي. په دې چې ژورې مطالعې ښودلې، چې له تغييراتو ور اخوا انساني وجود، له خپلو ټولو بدلونونو سره سره تل په يوه حالت کې پاتې کېږي او د يوه تلپاتې قانون له مخې عمل کوي.

اوس به موږ د خپلې خبرې وروستۍ برخې ته راشو: «آيا داسې مستقيمه قرينه هم شته چې دا ادعا رښتينې ثابتوي، چې انسان بايد خپل قانون د خدای له ابدي سرچينې ترلاسه کړي؟» ځواب دا دی، چې لږ تر لږه دوه داسې قرينې بې له شکه شته دي. يو انساني فطرت او بل د انسان په لاس د جوړ شويو قوانينو تجربه.

لارډ ايکټن يو ځای ويلي و:

**POWER CORRUPTS AND ABOSULTE POWER CORRUPTS ABOSLUTELY**

(اقتدار وراني جوړوي او مطلق اقتدار بشپړ وراني جوړوي.)

د بشر په هکله د ټول تاريخ تجربه دا ده، چې هر کله انسان ته مطلق اقتدار په ګوتو ورغلی دی، نو ظلم او فساد يې جوړ کړی دی. د انسان جوړښت دا ښيي، چې دی د يوه لوړ اقتدار تر چتر لاندې په سمه توګه عمل کولی شي. لامحدود واک په حتمي توګه انسان د وراني او فساد خواته بيايي.

دا خبره تر دې پخوا يوازې په اخلاقي اصطلاحاتو کې بيانېدله. خو اوس پخپله د بيولوژي له علم نه هم د دې خبرې ثبوتونه ترلاسه شوي دي. د امريکا مشهور بيالوژيپوه پروفيسور اسکنر او د هغه ملګرو دا مسئله د سوچه بيالوژي په رڼا کې څېړلې ده او د خپلې څېړنې پايلې يې د **Beyond Freedom and Dignity** نومي کتاب کې خپرې کړې دي. دوی وايي، چې انسان د خپل جوړښت له مخې د دې وړتيا نه لري، چې د ازادي له بوج نه دې ووتلی شي.

**WE CAN'T AFFORD FREEDOM**

ياده ډله له خپل تحقيق وروسته دې پايلې ته رسېدلې ده، چې د انسان لپاره لامحدوده ازادي نه، بلکې ترلی نظام پکار دی. همدا د انسان له بيولوژيک فطرت سره ډېر سمون خوري. د بيولوژي دغه تجربې په مسقيمه توګه د قرآن کريم د دې وينا پخلی کوي، «**يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ الأَمْرِ مِن شَيْءٍ قُلْ إِنَّ الأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ.**»

له دې وروسته چې کله د انساني قانون سازي تجربات رامطالعه کوو، نو له دې نه هم دا قرينه ترلاسه کوو، چې انسان د خپل ځان لپاره د قوانينو د جوړولو وړتيا نه لري. دلته به زه د ژوند له بېلابېلو برخو نه څو مقايسوي مثالونه راوړم.

ketabton.com - The Digital Library

۱ - په شرعي قانون کې سود حرام گرځول شوی دی. حال دا چې په وضعي قانون کې سود په کاروباري معاملې قیاس شوی او روا یې گڼلی دی. که له بې پرې زاویې ورته وگورو، نو تجربې په کامله توگه د شرعي قانون برتري راته ثابتوي. د سود د حرمت په اساس په اسلامي هېوادونو کې پوره زر کاله اقتصادي نظام فعاله و. خو هېڅ کله دا مسئله پېښه نه شوه، چې یوې خواته دې د شتمنیو انبار وي او بلې خواته د نېستی. معاصر اقتصادي نظام چې په سود باندې ولاړ دی، په انساني ټولنه کې یې لومړی ځل ناانډوله وضعیت رامنځته کړ. او له اوسني نظام سره د دې ناانډولي هېڅ حل لاره نشته.

د راکړې ورکړې په ټولو حالتونو کې سود یوازینۍ هغه طریقه ده، چې د شتمنیو دوران یو طرفه کوي. د سود همدا هغه ځانگړنه ده، چې اوسنی صنعتي نظام یې په یوه زبېښناک نظام بدل کړی دی. او په پایله کې یې په اوسنۍ پېړۍ کې هغه دوه سترې بدۍ منځته راغلې دي، چې د یوې نوم اشتراکي جبر او د بلې نوم نړیواله جگړه ده. مارکس او د نولسمې پېړۍ نورو اقتصادي مفکرینو چې د شخصي ملکیتونو په ختمولو کې د اقتصادي عدل رازونه لټول، هغوی په دې خبره پوه نه شول، چې هغه څه چې صنعتي نظام یې د استحصال په نظام بدل کړی دی، هغه له دې نظام سره د سودي پانگوالۍ یوځایوالی دی، نه د انفرادي ملکیت یوځایوالی. که هغوی په دې راز پوه شوي وای، نو بیا به یې د سود د ختمولو هلې ځلې کړې وې، خو هغوی د دې په ځای د ملکیت د منسوخولو طریقه غوره کړه او هېڅ ستونزه یې هم حل نه شوه کړای. البته د انسانیت یوه لویه برخه یې د تاریخ په لوی‌ترین اجتماعي عذاب کې داسې بندیوانه کړه، چې اوس که وغواړي هم نه شي ترې وتلی.

خو هټلر د سود دا بدي محسوس کړې وه. یهودي پانگوالو له دوهمې نړیوالې جگړې نه دمخه د جرمني او نورو اروپایي هېوادونو په اقتصاد باندې پوره منگولې خښې کړې وې. هټلر دا مسئله په دقت وڅېړله او ویې موندله، چې د یهودانو د اقتصادي غلبې لامل سود دی. که سود ناقانونه اعلان شي، نو د یهودانو سرمایه داري به همداسې ورسره ختمه شي، لکه د یوه ساکښ له جسم نه چې وینه وایستل شي. خو د هټلر بې مهاره انتقامي لېونتوب د اقتصادي حل لارې په ځای ده ته نظامي حل لاره ورښکاره کړه او نه یوازې جرمني بلکې له ټولې اروپا نه یې د یهودانو د استیصال لپاره د تاریخ تر ټولو وحشتناکه جگړه راپیل کړه.

له دوهمې نړیوالې جگړې وروسته د اروپا لږ او ډېر پاتې یهودان امریکا ته لاړل. له تېرو دېرشو کلونو نه دې قوم د امریکا سودي ادارې هم په خپلو لاسونو کې نیولې او د امریکا په اقتصاد یې یو ځل بیا هماغسې تسلط موندلی دی، څرنگه یې چې تر دې پخوا د اروپا په اقتصاد تسلط موندلی و. او اوس د جرمني په څېر په امریکا کې هم د دوی په خلاف نفرتونو سر راهسک کړی دی، تر دې چې شنونکي وړاندوینې کوي، چې لرې نه ده، چې په راتلونکي کې په امریکا کې هم د دوی په خلاف کوم «هټلر» راپیدا شي.

همدا حالت په یوه بله بڼه په «**پرمختیایي هېوادونو**» کې هم مخې ته راغلی دی. یاد هېوادونه د خپلو پرمختیایي طرحو لپاره له پرمختللو هېوادونو نه پورونو ته اړ وو. دا پور د اوسني اقتصادي نظام له مخې، په سودي شرطونو باندې ورکول شو. د سود د اقتصادي کرامت په پایله کې د پورونو یاد مبلغ اوس دومره زیات شوی دی،

ketabton.com - The Digital Library

چې ګڼ پوروړي هېوادونه د خپل کلني قسط د ورکړې لپاره له پور ورکوونکو هېوادونو څخه بيا بيا پور غوښتلو ته مجبور شوي دي. د زياترو هېوادونو وضعيت داسې دی، چې که خپل ټول پورونه له سود سره بېرته ورکړي، نو په بشپړه توګه به دېوالي شي.

۲ - د اسلامي شريعت د سزا تصور په دې ولاړ دی، چې انسان ازاد مخلوق دی. او عمداً په خپلې ارادې سره يو جرم ترسره کوي نو ځکه مجرم ته بايد داسې سزا ورکول شي، چې د نورو لپاره عبرت وګرځي. خلک يې د مجرم د انجام په ليدو وويرېږي او په اينده کې له جرمونو نه ډډه وکړي. د دې تصور له مخې په الهي شريعت کې د قاتل سزا قتل ټاکل شوې ده. د اتلسمې پېړۍ په پای کې د جرمپوهنې په ډګر کې يوه نوې فلسفه وضع شوه. د دې فلسفې مطابق جرم ارادي پېښه نه وه، بلکې اضطراري پېښه وه. او د جرم عوامل بيولوژيکي جوړښت، ذهني ناروغي، اقتصادي تنګلاسي، ټولنيز حالات او داسې نور وښودل شوو. وويل شوو چې مجرم ته بايد د مجرم په ځای د ناروغ په سترګه وکتل شي. او د سزا ورکولو په ځای بايد د «درملنې» چاره يې وشي.

په معاصره دنيا کې د دې نظريې ډېر زيات هرکلی وشو. په زياترو هېوادونو کې د زندانونو په ځای اصلاح خونې جوړې شوې او د اخلاقي جرايمو تر بريده درنې سزاګانې له منځه يووړل شوې. خو بيا هم په هر هېواد کې د دفاعي اهميت له مخې د جرمونو لپاره درنې سزاګانې په خپل حال پاتې وې او دا خبره پخپله د دې نظريې د ملاتړ کوونکو د بې باوري ښودلو لپاره کافي وه. خو د انساني فطرت په هکله وروستنيو څېړنو او عملي تجربو د دې نظريې لا زياته غلطي په ډاګه کړه. په خوشحاله او «روغو» ټولنو کې د جرايمو تمايل تر هغو ټولنو هم ډېر وليدل شو، چې نسبتاً په نېستمنو او ناروغو ټولنو کې تر سترګو کېږي او «معالجوي» ميتودونه د جرايمو په مخنيوي کې ډېر زيات ناکام شوو. په کومو هېوادونو کې چې د سزاګانو د کمولو اصول پلي شوی و، هلته د جرمونو شمېر تر پخوا هم ډېر لوړ شو. په ګڼو هېوادونو مثلاً سري لينکا او ډيلاوير کې د مرګ سزا بېرته وضع شوه. له دې امله د حقوقپوهان اړ شوي دي چې په خپله تېره نظريه باندې له سره بياکتنه وکړي. يوه قانونپوه ويلي دي چې «په خلکو کې دا تاثر، چې د يوه انسان د وژلو په پايله کې مجرم د مرګ د سزا مستحق ګرځي، په خپل ځان کې د ممانعت ارزښت لري.»

د دې برعکس د شرعي قانون د افاديت ژوندی ثبوت هغه هېوادونه دي، چې هلته نن ورځ هم شرعي سزا نافذه ده. مثلاً سعودي عرب. دا ښکاره واقعيت دی، چې په دې هېواد کې د مهذبو هېوادونو په پرتله د جنايتونو شمېر خورا ډېر کم دی.

۳ - همدا راز د ښځې او سړي ترمنځ د اړيکو مسئله ده. د اسلامي شريعت په نزد نر او ښځه د يو بل بشپړوونکي دي. **بعضکم من بعض** (آل عمران) د دې برعکس د معاصر تمدن ادعا ده، چې نر او ښځه له يو بل سره مساوي دي. د شرعي ليدلوري تقاضا ده چې د دواړو جنسونو د کار دايره جلا جلا وي. نو له همدې امله په اسلامي شريعت کې ټاکل شوي دي، چې له اصولي پلوه د ښځې د کار دايره کور او د سړي د کار ساحه له کور نه دباندې ده. حال دا چې د غربي فکر تقاضا وه چې ښځه او نر دې دواړه په يوه ډګر کې فعاله وي. د دواړو ترمنځ دې هېڅ ډول فرق او وېش نه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

په غربي هېوادونو کې په نولسمه پېړۍ کې د ښځې او نر ترمنځ د مساواتو اصول رواج کړای شو. خو تر سلو کلونو پورې په دې اصول باندې له عمل کولو سربېره داسې ونه شول، چې ښځه دې په یوه برخه کې هم د نارینه ځای ونیولی شي. دې عملي ناکامي خلک دې ته اړ کړل چې په دې مسئله له نوي سره غور وکړي. د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمه کې په دې مسئله باندې په غربي هېوادونو په تېره امریکا کې ډېرې زیاتې څېړنې وشوې. دې څېړنو د حیرانتیا تر بریده د شرعي لیدلوري لمنه ټینګوله. تر دې چې اوس په زغرده دا ثابته شوې ده، چې نه یوازې دواړه جنسونه له رواني پلوه جدا، جدا دي، بلکې د دواړو په منځ کې ډېر پرېکنده بیولوژیک توپیرونه هم شته دي. د خپل طبیعي جوړښت له پلوه دواړه جنسونه د یوه کار لپاره هېڅ راز مناسب نه دي.

بیا د دواړو نظریو پر بنسټ چې کوم کورنی او ټولنیز ژوند سازېږي، هغه هم اوس په بشپړ ډول مخې ته راغلی دی. د نر او ښځې په اړه شرعي اصول د ځمکې په یوه لویه برخه کې دیارلس پېړۍ پلي و. خو د ژوند په نظام کې هېڅ کله کومه غوټه راپیدا نه شوه. حال دا چې په غربي ژوند کې د «برابرۍ» د نوي اصول له پلي کېدو سره ټوله ټولنه ګډه وډه او کورنی ژوند ورسره تیت او پاشل شوی دی.

ښځې ته له کور نه بهر چارې چې وسپارل شوې، نو په نتیجه کې یې چې په غرب کې کومې ستونزې راولاړې شوې، د هغو په هکله د تفصیلي خبرو فرصت نشته. دلته به یې د دوو اړخونو یادونه وکړم. یو، **د خپل سرپرست له تربیې نه د ماشومانو د محرومیت مسئله.** په غربي ټولنو کې عمومي وضعیت دا دی، چې مور او پلار دواړه د کارونو لپاره له کور نه بیرون وځي او له دې امله ماشومانو ته د خپلو طبیعي روزونکو په منځ کې د اوسېدو فرصت نه پیدا کېږي. بله دا چې د نر او ښځې ترمنځ د ازاد اختلاف په پایله کې ډېر ځله په زړه کې نوې لېوالتیاوې راپارېږي او د طلاقونو د ډېرښت له امله د ویجاړو کورنیو ربړه راپیدا کېږي. په دې سره ماشومان د خپلو مشرانو له روزنې محروم رالویېږي او د شخصیت فطري ارتقا یې نه ترسره کېږي او اوسمهال په ماشومانو کې په لوی شمېر یوې نوې ناروغۍ سر راټوکولی، چې امریکایي ډاکټرانو د آتیزم نوم ورکړی دی. په دې ناروغي کې له جسمي پلوه روغ ماشومان له ذهني اړخه په عجیبو ناروغیو مبتلا وي. مثلاً وېره، له ملګرو سره شخړې کول، کورنۍ دنده نه کول، تاوتریخوالی او داسې نور. اوسمهال د دې مرضونو په درملنه کې ټول تدبیرونه پاتې راغلي دي.

دوهمه مسئله په لویانو پورې تعلق نیسي. ماشومان له خپلو سرپرستانو نه بې برخې کېږي. لویان له خپلو خپلوانو او عزیزانو نه. د فرانسې د یوه راپور په قول په فرانسه کې د انسانانو په ۵۲ میلیونه نفوسه کې اووه میلیونه سپي دي. دا سپي له خپلو بادارانو سره داسې اوسېږي، ته وا نږدې خپلوان یې دي. د پاریس په ګرانبیه هوټلونو کې اوس دا صحنه عجیبه نه ښکاري، چې یو نر او ښځه له خپل سپي سره په یوه مېز ډوډۍ خوري. د **جمیعة رعایة الحیوان** (پاریس) له یوه مسؤل نه پوښتنه شوې وه، چې «فرانسوي خلک له خپلو سپیو سره ولې د خپلوانو غوندې برخورد کوي؟» هغه په ځواب کې ورته ویلي و، چې «دوی غواړي، چې مینه وکړي. خو په انسانانو کې داسې خلک نه مومي، چې مینه ورسره وکولی شي.» د نر او ښځې ترمنځ د فطري انډول د ماتېدو پایله دا شوه، چې ټول انسانان خواره واره شول. مور او پلار، خور او ورور، مېرمن او بچیان، دا ټول د انسان فطري ضرورتونه دي. خلکو چې

ketabton.com - The Digital Library

وليدل، چې د خپل ځان لپاره دغسې وګړي نه شي موندلی، نو له سپيو سره يې مينه شروع کړه. ځکه چې په سپيو کې لږ تر لږه دا خصوصيت يقيناً شته، چې هېڅ کله دې ملتيا نه پرېږدي، هېڅ کله بې وفايي نه کوي.

انساني تجربو انسان د حقيقت دروازې ته رسولی دی. اوس د قرآن کريم علمبردارانو ته پکار ده، چې هغوی راپاڅېږي او د حقيقت بندې دروازې وازې کړي، تر څو انساني قافله د خدای د رحمتونو دنيا ته ننوځي، هلته چې رب يې ورته سترګې په لار دی.

په تلو تلو کې به د يوې نيوکې په ځواب سره خپلې خبرې راټولې کړم.

د طرابلس په **ندوة الحوار الاسلامي- المسيحي** (فروري ۱۹۷٦) کې د مسيحي لوري دريځ دا و، چې دين يوازې د روحاني اقدارو مجموعه ده. د مسلمانانو دريځ دا و، چې دين يو بشپړ نظام دی. په دې ځای کې يوه مسيحي استازي (ډاکټر شوليکل) د نيوکې په ډول وويل، چې په معاصر ژوند کې ګڼ داسې مسايل دي، چې د هغو په هکله په ديني کتابونو کې قوانين نه دي راغلي. د مثال په ډول ښار سازي. په داسې حالت کې دين د يوه بشپړ نظام په توګه څرنګه پلي کولی شو؟

دا ډول شبهات په دې راولاړېږي، چې د قانون مختلفې برخې جلا، جلا نه ارزول کېږي او د مباحثو د ګډوډولو له امله د مسئلې ټول نوعيت سم نه روښانه کېږي. د اسلامي ليدلوري له مخې د ژوند قانون درې مختلفې برخې لري:

## ۱- شريعت

## ۲- فقه

## ۳- تمدني مقررات

په دين کې د اساسي قانون برخې ته شريعت ويل کېږي. قرآن او ثابت سنت د دې شريعت ماخذونه دي. الله او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم هغه بنيادي قوانين ښودلي دي، چې د انساني ژوند نظام پرې په سمه توګه ترتيب کېدلی شي. دا قوانين همداسې نه بدلېدونکي دي، څرنګه چې د بيولوژۍ او ساينس قوانين نه بدلېدونکي دي.

**فقه،** په يوه معنا د شريعت د اساسي قانون زماني تعبيراتو ته ويلی شو. اساسي انساني قانون بې له شکه د تغيير وړ نه دی. خو د ژوند په نقشه کې د تغييراتو له امله بيا بيا ځلې دې ته اړتيا پېښېږي، چې له بدلې شوې نقشې سره د اسلام ابدي قانون ته مطابقت ورکول شي. فقه د همدې اړتيا د پوره کولو لپاره منځته راځي. د عباسي خلافت په زمانه کې چې کله اسلام پراختيا وموندله او د ژوند نقشه ورسره بدله شوه، نو قاضي ابو يوسف (۷۹۸- ۷۳۱) راوړاندې شو او د خپل وخت د ستر سلطنت له ټولو چارو سره يې اسلامي قوانينو ته مطابقت ورکړ او ويې ښودله، چې اسلام څرنګه په خپل ځان کې د دې ګنجايش لري، چې د هرې زمانې اړتياوې پوره کړي.

خو په فقه کې د اساسي شريعت بالعکس، د زماني عنصر موجوديت اړين دی. مثلاً په فتاوا قاضي خان کې يوه مسئله دا ده، چې که يو څوک قسم وخوري، چې زه به په هوا کې الوځم خو الوتلی ونه شي، نو په ده کفاره نه

ketabton.com - The Digital Library

واجبيږي. په دې چې په هوا کې الوتل د انسان لپاره ممکن نه دي. ښکاره ده چې د اوسني زماني فقيه به دغسې فتوا نه ورکوي. فقه د زماني له حالاتو سره عيارول، دې عمل ته اجتهاد ويل کيږي. د اجتهاد په مټ دا ثابتيږي، چې شريعت څرنګه د تل لپاره د عمل وړ دی. فقهي اجتهاد سره له دې چې له بنيادي پلوه په شريعت پورې تړلی دی، خو په کومې پخوانۍ فقهې پورې نه دی تړلی. په دې چې فقه يوازې د اسلامي اجتهاد ذخيره ده او په خپل ځان کې شريعت نه دی.

د قانون دريمه برخه هغه ده، چې ما ورته د «**تمدني مقرراتو**» اصطلاح کارولې ده. په دې برخه کې شريعت موږ په هېڅ راز قانون پورې نه يو تړلي. بلکې له تمدني اړتياوو سره سم انساني ګټو ته په کتو د هر ډول قانون سازي ازادي يې راکړې ده. د سوره سبا په دوهمه رکوع کې الله تعالی د خپلو هغه بندګانو ذکر کړی دی، چې اوه ستر مادي پرمختګونه يې ورپېرزو کړي وو. د معدنونو د استعمال فن، د هوايي سفر ځواک، تر لرې ځايونو پورې د پيغام رسونې وړتيا، د ودانيو فن، انجينري، کرهنه، ښارسازي او داسې نورو برخو کې يې ډېر غيرعادي مقام خپل کړی و. خو په دې برخه کې هېڅ ډول «صنعتي شريعت» يا «تخنيکي فقه» نه وه ورکول شوې. يوازې دا حکم شوی دی، چې د خدای شکر ايستونکي بندګان شئ. له دې ښکاري چې په تمدني چارو کې د قوانينو جوړولو مسئله په شريعت پورې تعلق نه نيسي. دا کار به انسان پخپله د خپلو علومو (ساينس) په مټ ترسره کوي. البته په دې کار کې بايد د خدای د شکرګزارۍ احساس شامل وي، چې پخپله د دې خبرې لوی ضمانت دی، چې دغه قانون سازي به د ظلم او فساد له خاشو نه سپېڅلې وي.



ketabton.com - The Digital Library

**غیر اسلامي ژوند دا دی، چې د انسان د فعالیتونو لوری دنیا ته وي. له خپلو مادي ګټو سره دلچسپي ولري، د خپل دنیوي مستقبل په جوړولو کې لګیا وي. بنده د هغو شیانو لپاره متحرک وي، چې دنیوي چارې یې پرې سمېږي، چې د ده شخصیت په کې ځلیږي، چې د ده د برتري احساس په کې خړوبېږي.**

**مګر اسلامي ژوند اخرت محوره ژوند وي. د مؤمن د لېوالتیاوو مرکز اخرت وي. تل د خپل اخروي مستقبل په فکر کې وي. د خدای په نزد د سرخرویي شوق ورسره وي، نه په دنیا کې د خپل حیثیت جوړولو. د ده پام، ارمانونه، فعالیتونه ټول د اخرت د کور جوړولو په لوري اوښتي وي. لنډه دا چې نامؤمن په دنیا کې ژوند کوي او مؤمن په آخرت کې. نامؤمن به له مرګ وروسته خپل اخرت ویني او مؤمن په دې دنیا کې د اخرت دنیا ته رسېدلی وي.**

# د خدای مرسته په دې ډول هم راځي

د تاریخ په کتابونو کې دا روایت ډېر مشهور دی، چې حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه کې یو ځل د جمعې خطبه ورکوله. ناڅاپه یې له خولې دا توري ووتل: یا سارية الجبل (اې ساریه د غره په لور) ساریه پوځي مشر و او د ده په مشرۍ کې اسلامي لښکر د ایران په کومه سیمه کې جګړه کوله. د جنګ په منځ کې یوه داسې شېبه راغله، چې د دښمن تله درنه شوه او په خلکو کې اندېښنه خپره شوه، چې مقابل لوری مسلمانان په خپل حصار کې ونه نیسي- او ختم یې نه کړي. په دې وخت کې بهترینه نظامي تګلاره دا وه، چې پوځ په شا راشي او د غره ډډې ته ځان واچوي تر څو دښمن د مقابلې مسئله یوازې یوه لوري ته پاتې شي.

خو ځینې وختونه داسې کېږي، چې په معامله کې ښکېل کس د حالاتو تر فشار لاندې په بې پرې ډول فکر نه شي کولی. او دا خبره یې ذهن ته نه ورځي، چې په دې اضطراري شېبه کې باید څه وکړي. په دې وخت کې له دباندې نه د خدای مرسته راځي. همدا حالت په پورتنۍ پېښه کې هم مخې ته راغی. الله تعالی حضرت عمر فاروق رض ته په مدینه کې هغه خبره وښوده، چې له حضرت ساریه نه په ایران کې پټه کې وه. د اسلامي پوځ قاصد چې وروسته د جنګ خبر راووړ، نو ویې ویل: اې امیر المؤمنینه، موږ ماتې ته نیږدې و، چې له فضا نه مو یو اواز واورېده یا سارية الجبل! دې اواز موږ هوښیار کړو. موږ خپل لښکر د غره لوري ته وخوځاوه او الله تعالی دښمن ته ماتې ورکړه او فتحه زموږ په برخه شوه.

دې ته ورته نورې ډېرې پېښې هم د تاریخ په کتابونو کې راغلې دي. مثلاً د اموي خلیفه هشام بن عبدالملک (مړ ۱۲۵هـ) په زمانه کې په افریقا کې اسلامي لښکر له وحشي قبایلو نه ماتې وخوړه. په دې



ketabton.com - The Digital Library

پوځ کې زیاتره خلک د شام وو او د پوځ شمېر کم و. هشام ته چې دا خبره ورسېده، نو قسم یې وکړ، چې «که زه ژوندی پاتې شوم، نو پر بربریانو به له سل زره کسیز لښکر سره ورخېژم او دا ټول به زما معاش اخیستونکي پوځیان وي. او بیا به سل زره جنګیالي نور لېږم او پرلپسې به یې لېږم. تر دې چې زما او زما له زامنو او لمسو پرته بل هېڅ څوک پاتې نه شي. بیا به د هغو په منځ کې پچه اچوم. او که زما په نوم پچه راووتله، نو پخپله به جګړې ته ور وځم.» له دې وروسته خلیفه هشام، د افریقا د والي بشر بن صفوان ورور حنظله بن صفوان له پنځوس زره کسیز لښکر سره ولېږه.

د جګړې په اوږدو کې خلیفه هشام ناروغ شو. خو زړه یې مسلسل د جګړې په ډګر پورې تړلی و. ویل کېږي، چې یوه ورځ د ناروغۍ له ډېر شدته یې له خولې ووتل: «حنظله! د میسره له دواړو لښکرو څخه لومړی له یو سره وجنګېږه.» شاوخوا ناستو خلکو ګمان وکړ، چې د هذیان په حالت کې یې څه وویل. خو د دمشق اواز حنظله ته تر افریقا پورې ورسېده. هغوی همداسې وکړل. لومړی یې له هغه لښکر سره جګړه وکړه، چې د قرن په ځای کې و. د یوه لښکر له ختمولو وروسته یې په هغه لښکر حمله وکړه، چې د اصنام په ځای کې و او جګړه یې وګټله. د دواړو لښکرو د جلا جلا ماتولو دغه پېښه د ۱۲۴هـ کال ده.

---

## د جاپان پاچا چې کله د ترکي له واکمن نه هیله وکړه چې د اسلام د خپراوي لپاره دې جاپان ته د اسلام مبلغین واستوي

په جاپان کې بودیزم په دې ډول راپیل شو، چې د کوریا راجا د جاپان پاچا (یماټو) ته په ۵۳۹ء کې یوه ډالۍ ولېږله. دې ډالۍ دوه شیان ځان کې رانغاړل. د ګوتم بودا مجسمه او د هغه د لارښوونو یوه لنډه صحیفه. د کوریا راجا ورته لیکلي و، چې «همدا تر ټولو ګرانبیه شی دی، چې زه یې در ډالۍ کولی شم.» او په دې ډول بودیزم د یوې مذهبي ډالۍ په بڼه په شپږمه میلادي پېړۍ کې په جاپان کې پېښه کېښوده. او په لنډه موده کې د شهزاده شوټوکو (۶۲۱- ۵۷۴) په زمانه کې د جاپان دولتي مذهب شو. (Man and His God)

عجیبه خبره ده، چې همدا پېښه له نن نه پنځه اتیا کاله مخکې په جاپان کې د اسلام په برخه کې هم پېښه شوه. بله دا وه چې دا ځل د جاپان امپراتور پخپله دا فرمایش کړی و، چې اسلام یې هېواد ته د «ډالۍ» په توګه واستول شي. دا د

**ټوکه**

ابوبکر بن محمد ابن درید (۳۲۱- ۲۲۳هـ) د ژبې، ادب او نسب امام پېژندلی کېده. ده به شراب ډېر څښل او په ډالیو او خیراتونو کې یې لاس ډېر پراخه و. یو ځل ده ته یو سوالګر راغی او یو څه یې ترې وغوښتل. په دغه ورځ د ابن درید په کور کې د شرابو له یوه منګي پرته بل هېڅ هم نه ول، نو ده هماغه منګی سوالګر ته ورکړ. خادم یې په خیرات کې د شرابو په ورکولو نیوکه وکړه، نو ده ورته وویل چې له دې پرته راسره نور هېڅ شی هم نشته. بیا یې د قرآن کریم دا آیت ولوسته «لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون؛ یانې تر هغو چې د خپلې خوښې له شیانو لګښت ونه کړئ، نېکي ته نه شئ رسېدلی.» له دې پېښې لنډه موده وروسته ابن درید ته د شرابو لس منګي په ډالۍ کې راغلل. ابن درید خپل خادم ته وویل: «وګوره موږ یو منګی ورکړی و، او موږ ته لس منګي راغلل.»

ketabton.com - The Digital Library

۱۸۹۱ز پېښنه ده، چې په دې زمانه کې په اسلامي نړۍ کې لوی، لوی شخصیتونه هم ژوندي وو. خو د دې وړاندیز په ځواب کې هېڅ غبرگون ونه ښودل شو. حال دا چې که له دې فرصت نه په وخت گټه اخیستل شوې وای، نو نن ورځ به نه یوازې د جاپان بلکې شاید د ټولې اسیا تاریخ به بل ډول وای.

د جاپان لرغونی ملي مذهب شنتو دی. خو دا مذهب کوم مقدس کتاب نه لري. دا مذهب تر ډېره د ملي روایاتو ټولگه ده. کنفیوسیس مذهب په دریمه میلادي پېړۍ کې له چین او بودیزم په شپږمه میلادي پېړۍ کې له کوریا نه جاپان ته راغلل. د جاپان زیاتره نفوس همدا درې مذهبونه مني. د شپاړسمې میلادي پېړۍ په وروستۍ برخه کې عیسوي مذهب د پرتگالیانو په لاس جاپان ته لاره وکړه او د ډېر لوی شمېر جاپانیانو په مسیحي کولو کې بریالي شول. خو پرتگالیانو د استعمار په ذهن په جاپان کې پښه ایښې وه، او د مذهب په جامه کې یې د جاپان په سیاست باندې د ولکې هڅه کوله. په جاپانیانو دا خبره ډېره بده لگېدله. لومړی پرتگالي مبلغ فرانسیس زیویر په ۱۵۴۹ز کې جاپان ته ورسېده، خو پنځوس کاله وروسته په جاپان کې د مسیحیانو په خلاف کشمکشونه پیل شول. تر دې چې په ۱٦۱۲ز کې یې یو ډېر توند فرمان صادر کړ، چې د دې فرمان له مخې نه کوم مسیحي له دباندې نه راتللی شوی او نه د جاپان اوسېدونکي مسیحي مذهب غوره کولی شوی. له دې وروسته زرگونه عیسویان ووژل شوو. زرگونه خلکو عیسویت پرېښوده او ببرته یې د خپلو نیکونو مذهب ته مخه کړه. د عیسویت مقدس نښان صلیب او د مسیح او مریم مجسمې یې هم ماتې کړې. تر ۱۸۵۳ز پورې یې له جاپان څخه بیخي د عیسویت نوم او نښان ورک کړل.

خو په اتلسمه پېړۍ کې په اروپا کې فکري انقلاب راغی او له دې سره وضعیت ببرته د لویدیځ په گټه بدل شو. په دې پېړۍ کې اروپا له نوي سره سیاسي او ټولنیز علوم تدوین کړل او دا خبره یې په ډاگه کړه، چې د فرد آزادي هغه ستر ارزښت دی، چې یوه ټولنه یا دولت یې باید د ترلاسي لپاره هلې ځلې وکړي. دې فکري انقلاب په ټوله دنیا کې هغه ملتونه په دفاعي دریځ کې واچول چې د فرد آزادي یې یا ختمه کړې او یا محدوده کړې وه او خپل ټولنیز نظام یې په پښو درولی و. دا ډول ټول قومونه په خپل حق کې د استدلال له ځواک نه بې برخې شوو، او له دې پرته یې بله هېڅ لاره نه لرله، چې د لویدیځ د فکري یرغل پر وړاندې خپلې وسلې وغورځوي.

د میجي امپراتور د پاچاهي په زمانه کې (۱۹۱۲- ۱۸٦۸) له یوې خوا د جاپاني ښارونو د رغونې لپاره د اروپا او امریکا ودانیزې نقشې را واردې شوې. بلې خواته د دغو ملتونو نظریات او افکار هم جاپان ته ورسېدل، چې د بیان د ازادۍ نظریه یې د کتار په سر کې ولاړه وه. د دغې نظریې له مخې پخوانۍ پرېکړې ته یو ځل بیا کتنه وشوه. په ۱۸۷۳ز کې د مسیحیت ضد قانون لغوه شو. په ۱۸۸۹ز کې یې د غرب په تقلید کې اساسي قانون جوړ کړ، چې د جاپانیانو لپاره د مذهبي آزادي خبره په کې شوې وه. اوس یو ځل بیا د اروپا او امریکا عیسوي مبلغینو جاپان ته رامخه کړه، او د عیسویت تبلیغ یو ځل بیا پیل شو. خو له بې اندازې پانگونې سربېره د عیسوي مذهب د منونکو په شمېر کې پاموړ زیاتوالی رانغی.

د زمانې د فکري فشار له مخې قانون خو بدل شو، مگر د جاپان ځیرک خلک اوس هم په دې وېره کې وو، چې هسې نه د تبلیغ ازادي یې په هېواد کې د غربي استعمار د راتلو لامل وگرځي. نو د نولسمې پېړۍ په پای کې چې

ketabton.com - The Digital Library

کله د عیسویت په خلاف قانون له منځه یوووړل شو، په همدې زمانه کې د جاپان حکومت ځینې داسې حفاظتي تدبیرونه هم وکړل، چې له عیسویت څخه د یوه سیاسي خطر د جوړېدو مخه پرې ونیسي. په دې کې یو ټکی دا هم و، چې د جاپان پاچا (میجي) په ۱۸۹۱ کې د ترکیې خلیفه سلطان عبدالحمید ثاني (۱۹۱۸- ۱۸۴۲) په نوم یو ځانګړی مکتوب ولېږه. په دې لیک کې یې خپلمنځي تعلق ته له اشارې وروسته د ترکیې سلطان ته لیکلي و، چې «موږ دواړه د ختیځ پاچاهان یو. زموږ او زموږ د قوم مصلحت دا دی، چې موږ دواړه یو بل ته نږدې شو. او له یو بل سره لیدنې ولرو. او زموږ دواړو اړیکې پیاوړې شي تر څو د غربي ملتونو مقابله وکولی شو، چې ټولو شرقي واکمنیو ته په یوه سترګه ګوري. تاسو پوهېږئ چې زموږ په هېواد کې مذهبي آزادي ده. له دې خبرې نه په استفادې سره غربي قومونه د خپل مذهب د خپرولو لپاره جاپان ته خپل مبلغین رااستوي. خو زه وینم چې تاسې داسې نه کوئ. زموږ زړه دی، چې تاسو خپل مبلغین دلته راولېږئ، چې دلته ستاسې مذهب اسلام خلکو ته وښیي. په دې ډول هیله ده، چې زموږ او ستاسې ترمنځ به معنوي اړیکه ټینګه شي.»

د جاپان د پاچا له لوري د یاد لیک له ترلاسي وروسته سلطان عبدالحمید شیخ الاسلام، د معارف ناظر او نور علما او صاحبِ فکر راټول کړل او ویې پوښتل چې په دې برخه کې باید څه اقدام وشي؟ خلکو نظر ورکړ، چې په آستانه (ترکیه) کې چې کومې اسلامي مدرسې دي، له هغو نه دې ځینې علماء وټاکل شي او جاپان ته دې واستول شي. په دې مجلس کې سید جمال الدین افغاني (۱۸۹۷- ۱۸۳۸) هم ناست و. په پای کې سلطان وویل، چې تاسو هم خپله رایه راکړئ. افغاني وویل، دا علماء خو له اسلام نه د مسلمانانو د لریوالي سبب ګرځېدلي دي. نو دوی به د جاپانیانو لپاره د اسلام د نیږدېکت وسیله څرنګه شي؟ بهتره دا ده، چې ځینې خلک په منظم ډول وروزل شي، چې اوسنی زمانې ته په پام سره د اسلام د تبلیغ ځانګړی صلاحیت ولري. بیا دې جاپان ته د اسلام د تبلیغ او خپراوي لپاره واستول شي. په دې وخت کې دې سلطان صرف دومره وکړي، چې د میکاډو (د جاپان امپراتور) په ځواب کې دې د منني خط ولېږي او ورته ودې لیکي، چې ستاسې نظر ډېر مناسب دی. موږ به ډېر ژر په دې خبره د عمل کولو هڅه وکړو. نو سلطان له ځینو ډالیو مالیو سره د جاپان امپراتور ته یو لیک واستاوه. (حاضر العالم الاسلامی، از امیر شکیب ارسلان)

فرانسیس زیویر (۱۵۵۲- ۱۵۰٦) چې په ۱۵۴۹ کې له ګوا نه جاپان ته ورسېده، نو د مخالفو حالاتو سره سره یې جاپاني ژبه زده کړه او د مسیحیت تبلیغ یې پیل کړ. خو د موافقو حالاتو سره سره په اسلامي نړۍ کې هېڅ څوک د جاپاني ژبې زدکړې ته رامخکې نه شوو. سید جمال الدین افغاني د خپلو استعدادونو له پلوه د دې کار لپاره تر ټولو مناسب سړی و. سلطان عبدالحمید ډېر زیات عقیدت هم ورته درلوده. که ده سلطان ته ویلي وای، چې یوه اداره ورته جوړه کړي او چارې به یې دی مخکې وړي؛ او په دې اداره کې به په جاپاني ژبه کې د اسلامي کتابونو ژباړې او د جاپاني ژبې مبلغین تیاروي، نو سلطان به سمدستي غاړه ورته ایښې وه. خو جمال الدین افغاني له خپلو سیاسي بوختیاوو نه هېڅ فرصت نه درلود. د هغه په نزد تر ټولو لوی کار دا و، چې انګریزي او فرانسوي استعمار «په قبر کې خښ کړای شي.» دی د غربي قومونو د سیاسي اقتدار ختمولو ته نارامه و. نو په داسې حالت کې به یې له دنیا نه د کفر او شرک د ختمولو نارامي په وجود کې څرنګه پیدا شوې وه؟

ketabton.com - The Digital Library

# کله نا کله ماته هم فتحه ثابته شي

د ژوند حقایق تر هغه ډېر پراخه دي، چې د فتحې او ماتې په اصطلاحاتو کې دې ځای شي.

---

د اسلام په تېر تاریخ کې د پردیو له لوري دوه سترې پوځي نښتې پېښې شوې دي. یوه له تاتاریانو سره او بله له مسیحیانو سره. له تاتاریانو سره د دوولسمې پېړۍ په پای کې مخامختیا پېښه شوه. اسلامي قومونه په دې مقابله کې په بشپړ ډول مات شول. خو د دې ماتې له منځه په حیرانوونکي ډول یو نوی امکان راوټوکېده. دغې فتحې د تاتاریانو انتقامي جذبې سړې کړې. او له رواني پلوه په دې حالت کې شوو، چې د مفتوح د مذهب او عقایدو په هکله بې پرې قضاوت وکړي. هغوی ولیدل، چې اسلام یو رښتوني دین دی او په دې دین کې پخپله د دوی ښېګڼه نغښتې ده. په دې توګه د مسلمانانو په ماتې یوه پېړۍ هم نه وه اوښتې، چې تاتاري واکمن مسلمانان شوو او ټوله ربره په یوه نوي بهتر شکل له منځه ولاړه او په پوځي ډګر کې فاتح لوري د فطرت او نفسیاتو په ډګر کې له مفتوح لوري ماتې وخوړه.

خو د مسیحي اروپا او مسلمانانو ترمنځ مقابله د دې برعکس مثال راته ښیي. له مسیحي اروپا سره له دوه سوه کاله صلیبي جګړو وروسته مسلمانانو ډېره ستره فتحه ترلاسه کړه او مسیحي قومونه له ډېرې سختې ماتې وروسته بېرته ستانه شول.

خو له دې وروسته څه وشول؟ په ټوله اروپا کې د غالب شوي دښمن په خلاف د انتقام د یوه ناپایه اور لمبې بلې شوې او دوی خپل ټول وسایل د یوې نوې جګړې لپاره په کار واچول. د دوی دې مخالفانه هڅو پنځه پېړۍ دوام وکړ. تر دې چې د کامیابي هغو پولو ته ورسېدل، چې د ځواک او زور نوي ډګرونه یې کشف کړل. هغوی مسلمانانو ته د ژوند په هره برخه کې ماتې ورکړه او په ټولې دنیا یې د خپلې رهبرۍ توغ ورپاوه. هغوی د لرغوني طرز کښتیو ته وده ورکړه او د بخاري کښتیو مقام ته یې ورسولې او د هغو په مټ یې په ټولو سمندرونو ولکه وکړه.

هغوی لرې ویشتونکي وسلې جوړې کړې او د مسلمانانو تورې یې ور پڅې کړې. هغوی مشیني صنعتونه ایجاد کړل او د مسلمانانو دستکاري ته یې د پای ټکي کېښوده. هغوی ساینسي علوم تدوین کړل او د مسلمانانو دودیز علوم یې بې ارزښته کړل. هغوی د محکومي یو نوی ډول (اقتصادي او فني محکومي) رامنځته کړه او ټوله اسلامي نړۍ یې مجبوره کړه، چې په سیاسي ازادي سربېره هم د هغوی غلامه او محکومه پاتې شي.

د تېرو اتو سوو کلونو دغه تاریخي تجربه راته ښیي، چې هغه خلک په سخته اشتباه کې پراته دي، چې یوازې د فتحې او ماتې په اصطلاحاتو کې فکر کوي.

حقیقت دا دی، چې د ژوند حقایق تر هغه ډېر پراخه دي، چې د فتحې او ماتې په اصطلاحاتو کې دې ځای شي. همدا وجه ده، چې موږ وینو، چې کله نا کله فتحه هم په ماته اوړي او کله بیا ماته هم په فتحه بدله شي.

ketabton.com - The Digital Library

# علمِ کلام – یوه کتنه

په قرآن کریم کې ویل شوي دي، چې الله تعالی چارې هم سمبالوي او د دلایلو تفصیل هم بیانوي(رعد – ۲) د چارو له سمبالولو مراد د کایناتو تنظیم دی، چې د خارجي اړخونو پوهه یې ساینس باله شي. د آیاتونو (دلایلو) له تفصیل نه مراد هغه وحي ده، چې وروستی او بشپړ متن یې د قرآن کریم په شکل کې له موږ سره خوندي دی. **علم کلام** د خپل حقیقت له مخې دا دی، چې د الهامي علم او کایناتي علم په وحدت او یووالي پوه شو، او د معلوم کاینات مرسته په نامعلوم کاینات د پوهېدو وړ وگرځوو.

له دې پلوه چې وگورو، نو اسلامي علم کلام هېڅ راز قدیم او جدید نه لري. دا د اسلام د متکلمینو تېروتنه وه، چې په علم کلام کې یې د زوړ او نوي وېش راپیدا کړ. علم کلام په حقیقت کې د قرآني عقلیاتو د مرتب کولو نوم دی. خو په عباسي دور کې متکلمینو گمان وکړ، چې قرآن باید د انسان په لاس د جوړ شوي فلسفیانه منطق یا عقلپوهنې له مخې ترتیب شي. همدا هغه تېروتنه وه، چې په علم کلام کې یې د قدم او جدید تصور راپیدا کړ. په دې چې فلسفیانه عقلیات چې قیاسي دي، نو له دې امله له وخت سره بدلېږي، حال دا چې په قرآني یا کایناتي عقلیاتو کې د بدلون او تغییر هېڅ سوال نه پیدا کېږي.


دا حقیقت دی، چې د قرآن کریم د استدلال طریقه په ټوله کې کایناتي ده. قرآن د محسوسو پېښنو له لارې د غیرمحسوسو حقایقو په هکله استدلال کوي. د قرآني علم کلام بنیاد د ځمکې او آسمان پر هغو قوانینو ایښودل شوی دی، چې نه بدلېدونکي دي، او هېڅ کله تغییر نه په کې راځي. د همدې لپاره قرآني علم کلام هم نه بدلېدونکی دی، د بدلون هېڅ سوال یې نه پیدا کېږي. دا خبره به سمه وي، چې قرآني علم کلام هم، د قرآني عقایدو په څېر، نه بدلېدونکي دي. خو چې کله علم کلام د انسان په لاس د ایجاد شویو علومو په بنسټ ترتیب شو، نو سمدستي په علم کلام کې د قدیم او جدید مسئله راپیدا شوه، په دې چې علوم په ټوله کې د قیاس په بنسټ رغېدلي وو، نو هېڅ کله په یوه شکل نه شوی پاتې کېدلی.

د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې، که په بشپړه توگه نه وي، نو تر یوه خاصه بریده، موږ په دې مقام کې و، چې علم کلام په پرېکنده او آفاقي شکل مرتب کړو. په پخوا زمانو کې د افلاک عالَم او د افلاکو علم دوه جلا شیان وو. د افلاکو عالَم په حقایقو ولاړ و او د افلاکو علم په قیاساتو. نن ورځ دا دواړه یو بل ته د نیږدې کېدو په حال کې دي. همدا خبره د قرآن کریم په اړه هم ده. په پخوا زمانه کې قرآن او علم کلام دواړه جلا، جلا آشاوې وو. قرآن په محکمو آیاتو ولاړ وو او علم کلام د فلسفیانو په قیاساتو باندې. نن ورځ د بشري علم ارتقا د دې امکان پیدا کړی دی، چې قرآن او علم کلام دواړه سره غاړه په غاړه کړای شي. که «د نوي علمِ کلام» په نوم کوم څه وي، نو هغه همدا علم کلام دی، چې باید مرتب شي، چې تر اوسه پورې نه دی مرتب شوی.

دلته به زه په لنډه توگه ځینو هغو کارونو ته اشاره وکړم، چې د علم کلام د نوي ترتیب او تدوین په برخه کې یې باید سرته ورسوو.

۱- تر ټولو لومړی کار د قرآن کریم په بنیاد د علم نظریه مرتب کول دي، یانې د استدلال د میتود علم. په پخوا زمانو کې به استدلال په قیاسي فرضیو او قوانینو ولاړ و او د څېړنې او تجربې د معاصرو روشونو د راتلو په ابتدایي زمانه کې د مشاهدې په استدلال ډېر ټینگار وشو. خو له آینسټاین وروسته د بشري علم یو نوی دوران پیل شوی دی، په دې دور کې دا خبره ډېره زیاته واضحه شوې ده، چې حقیقت په خپل وروستي شکل کې د انسان لپاره د مشاهدې وړ نه دی. اوس تقریباً دا خبره منل شوې ده، چې د انسان د محدودو صلاحیتونو له امله، د مشاهدې استدلال د ده لپاره ممکن نه دی او انسان یوازې د دې جوگه دی، چې استنباطي استدلال وضع کړي. موږ حقایق لیدلی نه شو، یوازې دومره کولی شو، چې په ظاهري شیانو غور وکړو او دا استنباط وکړو، چې دلته باید فلانی شی هم موجود وي.

ketabton.com - The Digital Library




اوسمهال په معاصره زمانه کې د علم یوه نوې نظریه منځته راغلې، چې د حیرانتیا تر بریده د علم له قرآني نظریې سره کټ مټ یو شان ده. په قرآن کریم کې ویل شوي دي چې **انسان ته لږ پوهه** (بني اسرائیل – ۸۵) ورکول شوې ده. د همدې لپاره انسان ته بویه چې په نامستقیم علم قناعت وکړي، نه دا چې د مستقیم علم لپاره ټینګار وکړي. په دې ډول وحي او انساني علم دواړه په یوه ټکي کې سره یو ځای شول. حقیقت دا دی، چې د علم نوې نظریې د استدلال قرآني طرز ته، په معاصره ترمینولوژۍ کې، عین د ساینسي استدلال درجه ورکړې ده. په اوسنۍ زمانه کې د علم کلام تر ټولو لومړنی کار همدا دی، چې دغه مهم‌ترین کشف تدوین شي.

٢ - دوهم کار د قرآن کریم د علم الآثار تدوین دی. په قرآن کریم کې د تېرو انبیاوو او لرغونو تمدنونو ذکر راغلی دی. دا د قرآن کریم هغه برخه ده، چې **ایام الله** (ابراهیم – ۵) ورته ویل شوي دي. د بشري تاریخ دا پېښې د قرآن کریم د لید له زاویې بې اندازې مهمې دي. دا پېښې زباتوي، چې دا کاینات یو خدای لري، چې په هره زمانه کې خپل استازي رااستوي او د خپلو ټاکلو قوانینو پر بنسټ د قومونو د برخلیک فیصلې کوي.

سره له دې چې دا د تاریخ موضوع ده. خو په قرآن کریم کې د دې ذکر په تاریخي انداز کې نه دی شوی، بلکې د دعوت او اجمال په انداز کې شوی دی. د دې پېښو په هکله چې له قرآن کریم نه بهر څومره مواد شته، هغه په لرغوني زمانه کې تر ډېره بریده نامعلوم وو. د همدې لپاره په پخوا زمانو کې د قرآن کریم د دې اجزاوو تدوین، په سوچه تاریخي اسلوب ممکن نه و. اوس په دې پېښو پورې تړلي بې شمېره پټ پاتې مواد لاسته راغلي، او په دې ډول دا امکان پیدا شوی دی، چې د ایام الله په هکله قرآني حوالې ترتیب شي، او د قرآن کریم دعوت د تاریخ په ژبه تدوین شي.

٣ - دریم کار دا دی، چې د **آفاقو نښې نښانې** (حم سجده – ۵۳) د معاصرو کشفونو په مرسته ترتیب شي. د قرآن کریم په وینا، په کایناتو کې بې شمېره نښې دي، چې خپل خالق ته اشاره کوي. او هغه حکمت راته ښيي، چې له مخې یې دا ستره کارخونه پنځول شوې ده. په قرآن کریم کې بیا بیا ځلې د دې نښو نښانو حوالې ورکول شوې دي او د قرآن کریم دعوت پرې مستدل کړای شوی دی. خو دا حوالې د اشارو په ژبه کې دي. په پخوا زمانه کې داسې معلومات نه وو، چې دا اشارې په تفصیلي ډول وشاربل شي.



اوس د ساینس له ارتقاء سره دا مواد تر ډېره بریده راټول شوي دي. شاید په دې خبره کې به مبالغه نه وي، چې ساینس په اوسني عصر کې د اسلام تیولوژي ګرځېدلی دی. خو بیا هم د ساینس د تدوین چاره لا هم پاتې ده. اړتیا ده، چې دغه خدایي نښانې، چې په طبیعي دنیا کې پټې دي، د نویو موندنو په مرسته په مفصله توګه ترتیب شي.

٤ - د قرآن کریم کې د استدلال یوه اړخ هغه دی، چې **د انساني نفسونو نښې نښانې** (حم سجده – ۵۳) ورته ویل شوي دي. یانې په بشري نفس کې د خدای نښې. دا برخه هم په پخوا زمانه کې تر ډېره بریده پټه پاتې وه. صوفیانو په دې اړه ډېر څه لیکلي دي، خو د هغوی خبرې د علمي حقایقو په ځای تر ډېره په قیاساتو ولاړې دي او لویه برخه یې په اوسني عصر کې بې ارزښته شوې ده. خو د ارواپوهنې څېړنو په اوسنۍ زمانه کې ګڼ شمېر داسې معلومات راټول کړي دي، چې د هغو په رڼا کې د قرآن کریم اشارې، که

ketabton.com - The Digital Library

په پوره توګه نه وي، نو تر ډېره بريده په تفصيل سره بيانېدلی شي. دا کار که په علمي کچه وشي، نو د قرآني نظرياتو په حق کې به د یوه ستر اړواپوهنيز تصديق کار وکړي.

۵- يو بل ډګر د ټولنيزو علومو دی. يانې قانون، سياست، اقتصاد او داسې نور. په دې موضوعاتو په اوسنۍ کې ډېر زيات څه ليکل شوي دي. دا زېرمه له ځينو اړخونو ګټوره هم ده. مګر له اصولي پلوه زه له دې سره جوړ نه يم، چې ټولنيز موضوعات په علم کلام کې راګډ کړای شي. د دې وجه د ټولنيزو علومو نوعيت دی. ټولنيز علوم په بشپړه توګه قياسي علوم دي او غالبا همېش به همداسې پاتې وي. که موږ په علم کلام کې ټولنيز علوم هم شامل کړو، نو يو ځل بيا به مو هماغه تېروتنه کړې وي، چې تر دې پخوا په عباسي دور کې متکلمينو کړې وه. هغوی د علم کلام ودانۍ د فلسفيانه قياساتو پر بنسټ ودانه کړې وه، او موږ به د ټولنيزو قياساتو په بنسټ علم کلام ترتيب کړی وي. نو ځکه شخصا زه په دې نظر يم، چې ټولنيز علوم دې د فقهي موضوع وي نه د علم کلام.



په نورو ټکو کې دا چې ټولنپوهنه دې د فقهي نظام په حيث ترتيب کړای شي نه دا چې د اسلام د عقلياتو لپاره دې د بنسټ په توګه وکارول شي.

٦- په پای کې زه د يوه داسې علمي کار يادونه کول غواړم، چې زموږ په رواجي پوهه کې يې په علم کلام کې نه حسابوي. حال دا چې د موخو له پلوه بايد دغه کار د علم کلام تر ټولو لوی عنصر وي. هغه په ساينسي اسلوب کې د اسلام د پېژندنې ادبيات پنځول دي. په اوسنۍ زمانه کې په اسلام بې شمېره کتابونه ليکل شوي دي.

خو شاوخوا په ټولو کتابونو باندې په يو نه يو ډول د کلامي اسلوب غالب سيوری غوړېدلی دی. په اوسنۍ زمانه کې چې د تفسير، سيرت، او عمومي اسلامي ادب کومه زېرمه برابره شوې ده، تقريباً ټوله يې د علم کلام په کټګورۍ کې راتللی شي. دا به پربږدو، چې د دې کتابونو علمي ارزښت او مقام څومره دی، خو دا خبره پخپله د اوسني عصر له تقاضا سره په ټکر کې ده، چې له تفسير او سيرت نه دې علم کلام جوړ کړو.

اوسنۍ زمانه د فکري آزادۍ زمانه ده. د نن ورځې انسان غواړي، چې اصلي خبره له کومې سليقوي يا کلامي زياتونې پرته مخې ته ورته کېښودل شي. او د تنقيد او کره کتنې ټول قضاوت لوستونکي ته پرېښودل شي. همدا وجه ده، چې د کتابونو له ګڼه ګوڼې سره سره په ټوله دنيا کې د نويو اسلامي کتابونو تقاضاوې کېږي. د نن ورځې انسان په اسلام پوهېدل غواړي. خو د داسې کتابونو له لارې چې په هغو کې اسلام په هغه اسلوب کې وړاندې شوی وي، چې په اوسنۍ زمانه کې يې ساينسي اسلوب بولي. د نن ورځې انسان له عقلي اسلوب نه ډېر په ساينسي اسلوب خپل زړه ورکوي. خو له بده مرغه په يوه اسلامي ژبه کې هم تر اوسه پورې ساينسي اسلوب نه دی عام شوی. له ساينسي اسلوب نه مراد دوديز کلامي اسلوب نه دی، بلکې داسې ساده او مثبت اسلوب دی، چې د ژبې او بيان له پلوه حقيقت ليکنې ته په کې پام شوی وي.

په اوسنۍ زمانه کې زموږ ليکوالو په اسلام بې شمېره کتابونه وليکل. خو زما د علم تر حده په يوه ژبه کې هم داسې تعارفي ټولګه نه ده چمتو شوې، چې په ساده، مثبت او حقيقي اسلوب کې د اسلام لارښوونې او د اسلام د پيغمبر سيرت په کې مرتب شوی وي، حال دا چې نن ورځ تر هر څه ډېر همداسې کتابونو ته اړتيا ده. زه به په جرأت سره دا خبره وکړم، چې که موږ نور هېڅ هم ونه وکړو، يوازې دومره وکړو، چې په قرآن لارښوونو، سيرت، احاديثو، صحابوو حالاتو او د اسلام په تاريخ (نه د فتوحاتو تاريخ) په سوچه علمي اسلوب او د حقيقت ليکنې په ژبه کې د کتابونو يوه ټولګه تياره کړو او په ټولو ژبو کې يې خپره کړو، نو لږ تر لږه د نن ورځې په دنيا کې به د علم کلام هدف په ډېر بهتر ډول ترلاسه کړای شو.

ketabton.com - The Digital Library

**د پخواني علم کلام يوه تېروتنه دا وه، چې د بشري عقل دا محدوديت يې درک نه شو کړای، چې عقل د شيانو په هکله يوازې ظاهري او اجمالي دليل راوړلی شي، او حقيقي ماهيت يې نه شي ټاکلی. مثلاً په قرآن کريم کې ويل شوي دي چې اللّه اورېدونکی او ليدونکی دی. صحابوو له خپل اجمالي مفهوم سره په دې خبره ايمان راووړ. خو متکلمينو دا بحث راپورته کړ، چې د خدای دا صفتونه پخپله د خدای ذات دي يا له ذات نه خارج نه دي. همدارنګه په قرآن کريم کې د يداللّه اصطلاح راغلې ده. نو اوس دا بحث وچېړل شو، چې کوم لاس چې اللّه ځان ته مضاف کړی دی، د هغه استعمال په قرآن کريم کې په مجازي معنا کې راغلی يا په حقيقي معنا کې.**

**په قرآن او حديث کې له دغه ډول تجسس نه په صريحو ټکو کې منع راغلې ده. خو دې خلکو د عقلي لټون په جوش کې دا محدوديت هېر کړ او بالکل بې ځايه يې هغه مسايل د علم کلام موضوع وګرځول، چې په علم کلام پورې يې هېڅ تړاو نه و.**

**د خپلې زمانې په علومو کې د مهارت له امله دې خلکو په حکومتونو کې هم لاس درلوده، نو بل کار يې دا وکړ، چې د خپلو مخالفينو نيول او ځپل يې پيل کړل، د خلق قرآن مسئله د همدې يوه بېلګه ده. په قرآن کريم کې ويل شوي دي، چې خدای له نبيانو سره خبرې کړې دي او پر هغوی يې خپل حکم نازل کړی دی. اوس متکلمينو دا بحث راواخيسته، چې د خدای کلام حادث دی که قديم (يانې فنا کېدونکی دی او که فنا نه مني). دوی وويل، که کلام اللّه قديم (نه فنا کېدونکی) ومنو، نو د دې معنا به دا وي، چې يوازې خدای قديم (نه فنا کېدونکی) نه دی، بلکې يو بل شی (قرآن) هم قديم دی. په دې ډول دوه قديمونه لازمېږي. له دغسې بحثونو نه دوی دې نتيجې ته ورسېدل، چې د خدای کلام مخلوق او حادث (فنا کېدونکی) دی، هغه پخوا نه و، بيا خدای خلق کړی او وخت په وخت يې په خپلو پيغمبرانو نازل کړی.**

**دغه بې معنا موشکافي دوی د کفر او اسلام مسئله وګرځوله او تر دې حده يې دا موضوع مهمه ونيوله، چې «د حکومتي لاسوهنې وړ» جرم يې وباله. د معتزله له لوري راپورته شوې فتنې ټوله اسلامي نړۍ په خپله غېږه کې ورټوله کړه. د درېو خلفاوو (مامون، واثق او معتصم) تر زمانې پورې بې شمېره مسلمانان د ځور او ظلم هدف وګرځول شوو. تر دې چې متوکل خليفه په خپله زمانه کې د پای ټکی ورته کېښود.**

## تورو ته يې ټکي کله ورکړل

ويل کېږي چې يوه سپين سرې فرزدق شاعر ته راغله او ويې ويل «زه ستا د پلار قبر ته پناه وړم.» فرزدق وپوښتل، څه غواړې؟ زړې ښځې وويل، تميم بن زيد زما زوی ورسره وړی دی، او له هغه پرته زما هېڅ اولاد نشته، چې ماته يوه مړۍ روزي راوګټي. فرزدق وپوښتل، چې زوی دې څه نومېږي؟ زړې وويل، «خنيس». نو فرزدق څو شعرونه وليکل او تميم بن زيد ته يې واستول. وروستی بيت يې داسې و:


**وهـب لي خنيسـا واحتسـب فيــه منـة**
**لعـــــبرة ام لايســــوغ شرابهـــــا**

ژباړه: او خنيس ماته راکړه، او په دې برخه کې مهرباني وکړه او د هغه د مور اوښکې وچې کړه، چې د هغې لپاره يې خواړه او اوبه بې خونده شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

د هغې زمانې له دود سره سم په کلمو باندې ټکي نه وو. تمیم بن زید ته اشعار ورسېدل، نو ویې غوښتل چې سپین سرې ته یې خپل زوی ېبرته وسپاري، خو د بې ټکو «حسس» په نوم کې شک ورولوېده. ده د خپلې قبیلې د ټولو خلکو نومونه وکتل، نو خنیس، خنیش او جیش او داسې نور شپږ ورته نومونه هم وو. ده دا شپږ واړه فرزدق ته واستول.

دغسې پېښو د خلکو پام کړل، چې د حروفو د پېژندلو لپاره باید هغو ته ټکي ورکړي. په دې کار کې ابتدايي هڅې ابوالاسود دولی وکړې. بیا د حجاج په امر ابو الاسود له دوو شاګردانو نصر بن عاصم او یحیی بن یعمر سره تکمیل ته ورساوه.




## سبعه معلقة

حماد الراویه (۱۵۵- ۹۰هـ) چې د سبعة معلقة په نوم کوم کتاب ترتیب کړی دی، په هغه کې اووه عربي قصیدې دي. خو د معلقاتو په شمېر کې د علماوو اختلاف دی. ځینو یې شمېر تر لسو پورې ښودلی دی. د دې معلقاتو لیکوال په لاندې ډول دي:

| ګڼه | قصیده | شاعر |
|---|---|---|
| ۱ | امرؤ القیس | قبیله کنده (قحطان) |
| ۲ | زُهَیر بن ابی سلمی | قیس |
| ۳ | لبید بن ربیعه | = |
| ۴ | عنتره بن شداد | = |
| ۵ | عمرو بن کلثوم | بنو ربیعه |
| ٦ | طرفه بن العبد | = |
| ۷ | حارث بن حلزه | = |

د معلقاتو په باره کې مشهوره ده، چې د کتان په ټوکر د سرو زرو په اوبو لیکل شوې او په خانه کعبه راځړول شوې وې. نو ځکه «مذهبات» هم ورته وايي. معلقات د عربو خورا انتخاب او د خوښې اشعار وو او په عربو کې د مقبولیت د یوه سمبول په توګه په کعبې ځړول شوې وې. ویل کېږي، چې ځینې یې د مکې تر فتحې پورې ځوړندې وې او ځینې یې په هغه اور کې

ketabton.com - The Digital Library

وسوځېدې، چې له اسلام نه مخکې په خانه کعبه کې لګېدلی و.

ځینې نور څېړونکي له دې سره مختلف نظر لري. علامه انباري لیکلي دي «د سبعه معلقه په اړه چې دا خبره مشهوره ده، چې دا شعرونه د کعبې په پرده ځړول شوي و، کوم اصل او اساس نه لري.» ابو جعفر نحاس (مړ ۳۳۸هـ) د معلقاتو په شرحه کې لیکلي دي، چې «دا خبره چې قصیدې په کعبه کې ځړول شوې وې، د روایت له مخې هېڅ سند نه لري.» پروفیسور نولدیکی په دې موضوع یو کتاب لیکلی دی او دې نظر ته یې ترجیح ورکړې ده، چې د معلقاتو معنا منتخبات یانې خوښې شوې او چاڼ شوې قصیدې دي. (علق د اعلاق جمع: د یوه شي نفیس حالت، یانې اعلاق الشعر یا نفائیس الشعر) د نولدیکي په نزد دې قصیدو ته دغه نوم د غاړې له امېلونو سره د تشبیه له مخې ورکول شوی دی. ورپسې یې د خپلې خبرې د تقویې لپاره دا دلیل هم راوړی دی، چې دې قصیدو ته «سموط» هم وایي چې د سموط معنا هم امېلونه دي. فرانسوي مستشرق پروفیسور کلامین هیار، چې د عربي ادب په تاریخ یې په فرانسوي ژبه کې کتاب لیکلی دی، هغه هم د نولدیکی له نظر سره په یوه خوله دی.

یوه بل څېړونکي لیکلي دي، چې د تعلق معنا د زړه مایل کېدل دي. غالب ګمان دا دی، چې معلقاتو ته د همدې لغوي معنا له مخې معلقات ویل کېږي. د دې نومونې وجه دا ده، چې دې قصیدو د خلکو زړونو خپل ځان ته مایل کړي وو. لانها علقت بالقلوب اکثر من غیرها:

فقد جاء الاسلام والمعلقات مشهورة محفوظة مروية ولکن لم يقل لنا احد ممن يوثق بهم انه راها معلقة على استار الکعبة

ژباړه: اسلام چې راغی، نو معلقات مشهور او محفوظ وو او خلکو به لوستل. خو هېڅ د اعتماد وړ سړي دا خبره نه ده کړې، چې دغه قصیدې دې یې د کعبې په پردو ځوړندې لیدلې وي (الدوحة، قطر، ذوالقعده ۱۳۹۵هـ)

د جاهلي عرب کوم کلام چې تر موږه رارسېدلی دی، په هغو کې تر ټولو ډېر د اعتماد وړ کلام همدا اوه معلقې دي. خو په اوسنی زمانه کې ځینو څېړونکو د جاهلي زمانې د کلام ټولې ذخیرې ته له تاریخي پلوه د شک په سترګه کتلي دي. مصری لیکوال ډاکټر طه حسین لیکلي: «عرب په خپل

## د چوپتیا اواز ته غوږ شئ

**په ځینو روایاتو کې راځي «کان رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم طويل الصمت متواصل الاحزان» یانې رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم به تر ډېره غلی و او پرلپسې به د غم حالت پرې خپور و.**

**د ام عبداللّٰه شعراني مقوله ده چې «من لم ينفعه سکوتنا لم ينفعه کلامنا» یانې چاته چې زموږ چوپتیا کټه ونه رسوله، هغه ته به زموږ خبرې هم کټه ونه رسوي. د مولانا شاه وصی اللّٰه صاحب یو مرید وایي، چې یوه ورځ مولانا وصی صاحب مجلس ته راغی خو غلی ناست و او تر ډېره په همدې حال کې و. بیا یې حاضرینو ته مخ کړ او ویې ویل «تاسو داسې فکر مه کوئ، چې زه به خامخا یو څه وایم، دلته دې هماغه خلک راځي، چې له اورېدو پرته یوازې ناسته هم کټوره ورته ښکاري.»**

ketabton.com - The Digital Library

منځ کې کینه‌گر او له یو بل نه لرې اوسېدونکی قوم و.

په هغوی کې د خپلمنځي ربط داسې ذرایع نه موندل کېږي، چې د لهجو د یووالي امکان دې راپیدا شوی وای. یقیناً معقوله خبره همدا ده، چې له عدناني قبایلو څخه دې د هرې قبیلې خپله ژبه خپله لهجه وي.

خو دا ډول کومه خبره په جاهلي شعرونو کې نه تر سترګو کېږي. موږ اوه واړه معلقې لولو او هېڅ داسې نه محسوسوو، چې د هغو ترمنځ دې د ژبې کوم اختلاف وي.

د اوو واړو معلقاتو بحر، قافیه ټول یو دي. او کلمې هم په هغه معنا کاروي، چې له اسلام نه راوروسته مسلمان شاعران يې کاروي. نو اوس موږ د دوو نظرونو په منځ کې یو. یا به دا خبره منو، چې د عدنان او قحطان عربي قبایلو ترمنځ د ژبې، لهجې او د وینا په طرز کې هېڅ ډول اختلاف نه وو. او یا باید دا اعتراف وکړو، چې دا اشعار د جاهلیت په زمانه کې له دې قبیلو څخه نه دي راغلي، بلکې له اسلام نه راوروسته دغو شاعرانو ته منسوب شوي دي. خو د لومړي نظر په پرتله موږ دوهم نظر ته ډېره ترجیح ورکوو. ځکه چې د عدنان او قحطان ترمنځ د ژبې او لهجې اختلاف پخپله متقدمینو هم منلی هم دی. او نویو څېړنو هم په ډاګه کړې ده، چې د لغت حمیر (عرب عاربه) او لغت عدنان (عرب مستعربه) د ژبو ترمنځ ډېر سخت اختلاف و. ابو عمرو بن العلاء نه منقول دي، چې هغه به ویل «د حمیر ژبه زموږ ژبه نه ده او د هغوی لهجه زموږ لهجه نه ده.» (الادب الجاهلي)

خو دا لیدلوری لا هم انفرادي دی. ځکه چې د عربي ادب د مؤرخینو اکثریت دې نظر ته غاړه نه ده ایښې.

---

## پخــــوا زمانـــو کې به انسان څرنګه لیکل کول

**۱- هیروغلیفي لیک (Hieroglyphics)**

(د دنیا تر ټولو لرغونې او لومړنی الفبا)



هیروغلیف انځوریز لیک له کوزې خوا نه بر خواته او کله نا کله د دې بالعکس لیکل کېده. د دې لیک لیکونکي د عبادتخونو راهبان وو او دا لیک یوازې د مذهب په پیروانو پورې ځانګړی وو. د خدایانو لارښوونې، اسطورې او نورې مذهبي دعاګانې او احکامات به په تیږو، په ختینو لوحو او د لرګي په تابوتونو کښل کېدل. د دې لیک لیکل ډېر سخت و. د مصر په اهرامونو او ایډفو ښار کې د هورس خدای معبد او په تېره د آمون خدای په معبد (Temple of Amun) کې د دې لیک ډېر زیات عبارتونه لیکل شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

### ۲- مېخي لیک



د کلداني کاهن او مؤرخ بروسوس (څلور سوه قبل المیلاد) له تاریخ نه ثابته ده، چې څلور زره کاله پخوا په بابل کې د سمیري قوم واکمني وه. سمیري تمدن د لرغوني مصر هممهاله تمدن و. دا قوم د دجلې او فرات په منځنۍ سیمه کې اباد و. یونانیانو په دې خاوره د میسوپوټامیه (بین النهرین) نوم ایښی و. د بابل په سوېلي خوا کې د یوه لرغوني ښار نیپور (Nipour) د کیندنو پر مهال په پخو خښتو کې د هغې دورې کتیبې لاسته راغلې، چې د انځورونو په خوا کې د مېخي لیک عبارتونه یې هم لرل.

### ۳- میخي – پیکاني لیک (Cuneiform)



په ۲۰۶۷ قبل المیلاد کې په بابل کې حمورابي نومي پاچا واکمني کوله. دا پاچا په خپل عدل مشهور و. حمورابي د حکومت قانون ترتیب کړ، چې د دنیا لومړنی قانون ګڼل کېږي. د تعلیم لپاره یې ښوونځي جوړ کړل. د خپل واک په دوره کې یې سمیري لیک ته نږدې یو لیک راوایسته چې په عرب او عجم کې په میخي او پیکاني نوم مشهور شو او په انګریزي کې یې کیونیفورم بولي. د کیندنو په ترځ کې د دې لیک ډېرې زیاتې بېلګې لاسته راغلې. یادې کتیبې د اروپا په لویو، لویو میوزمونو کې ساتل شوې.

---

## غربېدل اړين نه دي

**د عربي ژبې يوه مقوله ده «رب کلمة تقول لصاحبها دعني»؛ ځينې خبرې خپل ښتن ته وايي، چې پرې مې ږده.**

**يانې ځينې وختونه انسان په داسې خبرو سر وي، چې د ويلو نه وي؛ چې دومره بې ارزښته او بې معنا وي، چې ګواکې پخپله خبرې چيغې ورته وهي، چې له داسې خبرو نه خو بهتره ده چې خاموش اوسې.**

ketabton.com - The Digital Library

## هغه خلک چې د وینا او وعظ کمالونه ښيي، یوازې د زمانې له تغییراتو خپله ناخبري ثابتوي

سحبان وائل (مړ ۵۴هـ) د ښې وینا او وعظ لپاره متل ګرځېدلی و. ده د امیر معاویه په دربار کې ډېر زیات قدر او درناوی ولیده. یو ځل له خراسان نه یوه ډله امیرمعاویه ته راغله. امیر سحبان راوغوښته او د وینا هیله یې ترې وکړه. سحبان وویل، زما لپاره امسا راوړئ. خلکو وویل «د امیر المؤمنین په دربار کې په امسا باندې څه کوې؟» ځواب یې ورکړ «هماغه څه چې موسي به له خپل خدای سره د خبرو په وخت کې له امسا سره کول.» بیا یې وینا پیل کړه، نو له ماسپښین نه تر مازدیګره پورې داسې پرلپسې وغږېده، چې یو ځل هم یې تیندک په کې ونه خوړ. ټول ګډونوال هک حیران پاتې شول. امیر معاویه وویل «ته په رښتیا هم د عربو ډېر برجسته خطیب یې.» سحبان وویل «یوازې د عربو نه، بلکې د ټولو عجمو او پېریانو او انسانانو هم.»

زیاد بن ابیه (مړ ۵۳هـ) یو ځل د عمر رض په مخکې د مهاجرینو او انصارو په وړاندې وینا وکړه. وینا یې دومره ښه وه، چې له اورېدو وروسته عمرو بن العاص وویل «سبحان الله! که د دې ځوان پلار قریشي وای، نو په خپلې امسا به یې د عربو رهبري کوله.» حجاج بن یوسف ثقفي (۹۵– ۴۱هـ) د ژبې او بیان ډېر هیښوونکي استعداد درلوده. مالک بن دینار وایي، «ما له حجاج نه ډېر اغېزناک او خوش بیانه واعظ نه دی لیدلی. دی به چې په ممبر ودرېده او له عراقیانو سره به یې د خپلو احسانونو او بخششونو یادونه کوله او په مقابل کې به یې د عراقیانو زیاتي او بد چلندونه بیانول، نو ما به دی رښتوني او عراقیان دروغجن ګڼل. حال دا چې ده ۱۲۰ زره عراقیان په زندان کې له منځه وړي وو او چې کله دی ومړ، نو په زندانونو کې یې ۵۰ زره سړي او ۳۰ زره ښځې زنداني پاتې وې.»

د عثمان رض له شهادت وروسته چې کله په مسلمانانو کې اختلاف راپیدا شو او په پایله کې یې د یو بل مخالفې ډلې جوړې شوې، نو ویناوالي ډېره زیاته وده وکړه، په دې چې هر لوري د خپل نظر د تبلیغ او خپراوي لپاره تر ټولو ډېر په وینا او وعظ باندې تکیه کوله. په حدیث کې د یوې وړاندوینې له مخې په مسلمانانو کې د اختلاف له زېږېدو وروسته بیا هېڅ کله ختم نه شو، نو ځکه وعظ او ویناوالي ته خپله غذا ور رسېدله او دومره واعظان او ویناوال په کې راپیدا شول، چې شمېر یې د شمېرلو نه و.

خو د ساینسي دور له راتلو دمخه وینا او وعظ له خپلو ځینو زیانونو سره سره له ګڼو اړخونو ګټور هم وو، په تېره د جګړې په ښېبو کې د جهادي جذبې د پاروولو لپاره. مګر په ساینسي دور کې دغه ډول وعظ او ویناوالي خپله ټوله معنا بایللې ده. اوس په علم کې څېړنې او تحلیل اهمیت موندلی دی او په عمل کې پلان ګذاري. ښکاره ده چې وینا او وعظ په دې دواړو پورې هېڅ تعلق نه نیسي. ځکه نن ورځ د وینا مقام هماغه پاتې دی، چې په مشاعرو کې د شاعري وي، نور هېڅ هم نه دی.

په دې حالاتو کې چې کوم خلک اوس هم د وینا او وعظ کمالونه ښکاروي، هغوی یوازې همدا ثابتوي، چې د زمانې له تغییراتو ناخبره دي. د دوی فعالیتونه ممکن په میوزیم کې خو ځای ومومي، مګر د حال یا مستقبل د جوړونې نوم نه شو ورکولی.

ketabton.com - The Digital Library



# پرده او حجاب

د پردې اړوند دوه ډول آیتونه راغلي دي، په یو ډول کې د رسول پاک صلی الله علیه وسلم بیبیانو او د امت ټولو ښځو ته یو ډول خطاب شوی دی، او په ځینو نورو آیاتونو کې یوازې د نبي کریم ص سپېڅلو مېرمنو ته خطاب شوی دی. خو د قرآن کریم مفسرینو د دې آیاتونو مفهوم او مقصود ته په کتو دا فیصله کړې ده، چې د دغو آیتونو احکام هم د ټولو ښځو لپاره عام دي، البته د رسول پاک ص د مېرمنو د عظمت او د هغو د احترام له امله هغوی ته ځانګړی خطاب شوی دی، هغوی د امت میندې دي او له ټول اسلامي امت سره یې ډېره نازک اړیکه ده، د همدې لپاره ضروري ده، چې وړه غوندې بې حجابي هم باید په دې اړیکه کې د خنډ سبب نه شي.

په اصل کې د حجاب او پردې اړوند آیتونه چې په غور مطالعه شي، نو دا واضحه او له ورایه ښکاري، چې په دې آیتونو کې دوه جلا، جلا پرېکړې بیان شوې دي. یوه دا چې د ښځې د ژوند ځانګړی امتیاز دا دی، چې دا باید د کور زینت وي او د یوه لنډ ضرورت یا عام اسلامي مصلحت نه علاوه د ښځې له کور نه دباندې ګرځېدل عیبجن او ناخوښ عمل دی. نو څکه ویل شوي دي:

**«اې د نبي مېرمنو تاسې د نورو ښځو په شان نه یاست، که الله نه وېره لرئ نو په خبرو کې نزاکت مه کوئ چې بیا به هغه کس په تمه کې پرېوځي چې زړه کې یې رنځ وي او سمه (ځیره) خبره کوئ.**

ketabton.com - The Digital Library

**او کرارې خپلو کورو کې اوسئ او د پرومبني جاهلیت غوندې خپل ښایست مه څرګندوئ.» (احزاب)**

په بل ځای کې ویل شوي دي:

**«او کله چې له هغوی (بيبيانو) مو څه سامان غوښتو نو د پردې له شا يې وغواړئ. دا (طريقه) ستاسو او د هغوی د زړونو دپاره ډېره پاکيزه ده.»**

او په نورو آيتونو کې دا څرګند شوي دي چې که د شخصي اړتيا يا اسلامي مصلحت په خاطر دباندې وتل حتمي وي، نو بيا د شرم او پردې تقاضا دا ده، چې دا خبرې په پام کې ونيسئ. نو فرمايلي يې دي:

**«او مؤمنو ښځو ته هم ووايه چې خپل نظرونه ښکته ساتي، د خپلو عورتونو ساتنه دې کوي او خپل سينګار دې نه ښکاروي پرته له (مخ، لاس او پښو) هغه چې په خپله راڅرګند شي او په خپلو سينو دې خپل پړوني واچوي او خپل سينګار دې نه ښکاره کوي.» (النور)**

او دغه راز فرمايي چې:

**«اې نبي خپلو مېرمنو، لورانو او د نورو مؤمنانو ښځو ته ووايه چې خپل پړوني دې پر ځان راخپروي.»** يانې په پړوني دې خپل ټول بدن نغاړي، چې د پردې سترګې پرې ونه لګي.

که دا وهم منو، چې په قرآن کريم کې يوازې د نبي بيبيانو ته په پرده کې د سختي امر شوی دی، خو د عامو ښځو لپاره دا سختي نشته او د دباندې وتلو اداب او طريقې چې ور وښودل شي، نو د ورځنيو اړتياوو لپاره د بيرون وتلو اجازه ورکړل شوې ده، نو بيا به هم دا منو، چې د اسلام خوښه او د رسول پاک صلی الله عليه وسلم لارښوونه همدا ده، چې عامو ښځو ته هم له سختې اړتيا پرته بيرون وتل عيبجن کار دی او د جاهليت د زمانې په څېر د ښکلا او سينګار له نمايش سره د وتلو خو په اسلام کې هېڅ ګنجايش نشته، هغسې چې د حجاب په آيت کې واضح شوي دي.

د ابو داؤد په صحيح حديث کې راغلي دي، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د ښځې لمونځ په خونه کې له انګړ نه ډېر غوره دی. «**صلاة المرأة في بيتها أفضل من صلاتها في حجرتها ، وصلاتها في مخدعها أفضل من صلاتها في بيتها.**» او د ترمذي په حديث کې تر دې هم په واضحو ټکو کې ويل شوي دي «**لْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ، فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ**» ښځه عورت دی، چې کله بيرون وځي، نو شيطان يې په څرک کې وي او هرکلی يې کوي.

د خبرو خلاصه دا ده، چې د عصمت او عفت ساتنه د اسلام له مهمو مقاصدو څخه ده او دا ښکاره ده چې په دې برخه کې وړه تېروتنه هم د نارينه په مقابل کې د ښځې د ژوند لپاره د خورا هلاکت او تباهي سبب کېدلی شي. د همدې لپاره تر خپله وسه پکار ده، چې د هغو ټولو لارو او اسبابو مخه ونيول شي، چې په عامه توګه د دغسې تېروتنې يا ګناه سبب کېدلی شي او د همدې لپاره پرده او حجاب د دې نېک مقصد لپاره تر ټولو غوره تګلاره ده. (نور البشر في سيرة خير البشر)

**الرساله**

د پوهنتون استاد خپل ملګري ته د «الرساله» مياشتنۍ په تعارف کې وويل:

**IT PRESENTS ISLAM AS A LIVING FAITH.**

**الرساله اسلام د يوه ژوندي مذهب په توګه وړاندې کوي.**

ketabton.com - The Digital Library

# په اسلام کې د ښځې مقام



«او هغو خلکو ته هم د دردناکې سزا زېرى ورکړه چې سره او سپین ذخیره کوي او د الله په لار کې يې نه لګوي» (توبه- ۳۴)

په قرآن کریم کې چې دا آیت نازل شو، نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل «تبا للذهب تبا للفضة» (تباه شول سره زر او تباه شول سپین زر» دا خبره چې کله صحابوو ته ورسېده، نو هغوی اندېښمن شول او خپلو منځونو کې يې وویل «نایّ مال نتخذ» (نو اوس کوم مال ذخیره کړو) حضرت عمر رض په دې وخت کې همدلته و. هغه وویل، که ستاسې خوښه وي، نو زه به په دې اړه له رسول الله ص نه پوښتنه وکړم. خلکو وویل، سمه ده. نو حضرت عمر، رسول الله ته راغی او ورته ویل چې ستاسې اصحاب وایي، چې کاش موږ پوهېدلی چې کوم مال بهتر دی، نو هماغه به مو ذخیره کاوه. پیغمبر علیه السلام وفرمایل: «لیتخذ احدکم لسانا ذاکرا وقلبا شاکرا او زوجة مؤمنة تعین احدکم علی ایمانه» (تفسیر ابن کثیر، جلد ۲، صفحه ۳۵۱) له تاسو نه دې هر یو داسې وکړي، چې ذکر کوونکې ژبه او شکر ایستونکی زړه دې خپل کړي او داسې ښځه دې وکړي، چې په ایمان کې ورسره مرسته وکړي.

په یوه بل روایت کې د ایمان په ځای د آخرت کلمه راغلې ده. دلته به موږ یو څو مثالونه راوړو، چې له هغو نه به په اسلامي ټولنه کې د ښځې د کردار اندازه وشي.

ketabton.com - The Digital Library

۱- حضرت ام سلمه رض، یو ځل په یوې ښځې خپل وېښته چوټي کول. په دې وخت کې له جومات نه د خطبې اواز راغی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ایها الناس (اې خلکو). نو ام سلمه سمدستي وویل، څرنګه چې دي، هماغسې یې راوتړه. ښځې وویل، نو دومره بیړه دې ولې ده، تر اوسه خو یې لا ایهاالناس ویلي دي. ام سلمه وویل «ډېر ښه، آیا موږ په انسانانو کې نه حسابېږو؟» دا خبره یې وکړه او پخپله یې وېښتان وتړل او ودرېده او د خطبې اورېدو ته یې ځان ورنیږدې کړ. (طبقات ابن سعد) له حضرت ام سلمه رض د روایاتو شمېر ۳۷۸ دی. هغې به فتواوې هم ورکولې. ابن قیم لیکلي دي، چې د ام سلمه فتواوې که راټولې شي، نو یوه بشپړه رساله به ترې جوړه شي.

د رسول الله ص په مېرمنو کې حضرت عایشه رض تر ټولو ډېره ذهینه وه. د هغې د روایاتو شمېر تر ۲۲۱۰ پورې ښودل شوی دی. له عایشې نه شاوخوا سل صحابوو او تابعینو روایت کړی دی. عروه بن زبیر، سعید بن مسیب، عبدالله بن عامر، مروق بن اجدع، عکرمه او علقمه په څېر خلک د عایشې په شاګردانو کې راځي. حضرت عایشه د ډېرې اعلی درجې فقیهه ښځه وه. چې کله به یې یو حدیث بیاناوه، نو علت او حکمت به یې هم ورسره بیاناوه. له حضرت ابو سعید او حضرت عبدالله بن عمر نه د جمعې ورځې د غسل په اړه یوازې همدومره روایت شوی دی، چې د جمعې د ورځې غسل ښه دی. خو دا حدیث چې عایشې بیان کړی، نو دا یې هم ویلي دي، چې خلک به له لرې لرې کلیو نه د جمعې لمانځه ته مدینې ته راتلل. هغوی به دوړو او ګردونو وهلي وو او په خوَلو کې به ډوب وو، نو ځکه رسول الله ص فرمایلي چې تاسې غسل کوئ.

۲- د بني غفار یوه ښځه وایي، چې زه د خپلې قبیلې له څو ښځو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم. په دې وخت کې نبي کریم ص د خیبر د جهاد لپاره روانېده. موږ ورته وویل، اې د خدای رسوله! موږ غواړو، چې موږ هم په دې سفر کې له تاسې سره لاړې شو، تر څو د ټپیانو درملنه وکړو، او څومره مو چې وس وي، له مسلمانانو سره مرسته وکړو. پیغمبر علیه السلام وفرمایل: علی برکة الله (خدای مو برکتمنې کړه، راځئ) د انصارو یوه ښځه ام عطیه رض وایي، چې ما له رسول الله صلی علیه وسلم سره په اوو غزوو کې ګډون کړی دی. زه به د مجاهدینو د مشکونو د ساتلو لپاره د لښکر ترشا وم، د هغوی لپاره به مې خواړه پخول، د ټپیانو درملنه به مې کوله، او په رنځېدلیو به مې پام ساته. اسماء بنت یزید بن سکن د حضرت معاذ بن جبل د تره لور وه. د دې په باره کې حضرت مهاجر وایي، چې هغې د یرموک په جګړه کې د خېمې په لرګي نهه رومیان ووژل.

۳- په مدینه کې له یهودانو سره د جنګ د زمانې پېښه ده. ښځې او ماشومان یې په یوه کلا کې راټول کړي وو او حسان بن ثابت رض یې د هغو ساتنې ته ګمارلی و. صفیه بنت عبدالمطلب هم د دې کلا په بام باندې وه. هغه وایي، چې زموږ خواته یو یهودي تېر شو او زموږ کلا ته یې تګ راتګ پیل کړ. په دې وخت کې بني قریظه جګړه پیل کړې وه. له دې امله زموږ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترمنځ لاره بنده وه او هېڅ څوک نه و، چې د یهودي پر وړاندې زموږ دفاع وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم او ټول مسلمانان له دښمنانو سره په نښته کې بوخت وو او زموږ لپاره یې هغوی نه شوی پرېښودلی. په دې وخت کې یهودي زموږ مخې ته تېر شو. ما حسان ته غږ کړل، چې اې حسانه! دا یهودي زموږ په کلا ګرځي

ketabton.com - The Digital Library

راگرځي او په خدای قسم زه له دې نه په امان کې نه یم. هسې نه زموږ له دې حساس حالت نه یهودان خبر کړي، او نبي صلی الله علیه وسلم او صحابه په جنګ کې بوخت دي. نو ور کوز شه او دا یهودي ووژنه. حسان بن ثابت وویل: «والله لقد عرفت ما انا بصاحب هذا» یانې په خدای قسم! ته پوهېږې، چې زه د دې کار جوګه نه یم» دا وایي، چې کله حسان دا ځواب راکړ او له هغه سره مې د یهودي د وژلو لپاره کوم څه وهم نه لیدل، نو ما خپله ملا وتړله او یو لرګی مې په لاس کې واخیست. بیا له کلا نه ښکته شوم او هغه یهودي ته ورنیږدې شوم او د لرګي وارونه مې پرې وکړل، تر دې چې ومې واژه. چې کله ترې اوزګاره شوم، نو بېرته کلا ته راستنه شوم او حسان بن ثابت ته مې وویل چې له کلا نه ښکته شه او د یهودي سامان راوړه. زه یوازې په دې وجه د هغه له سامان اخیستو راوګرځېدم، چې هغه سړی و. حسان بن ثابت رض وویل: اې د عبدالمطلب لورې! زه دې سامان ته اړتیا نه لرم. (البدایة والنهایة، جلد ۴، مخ ۱۰۸)

**د مولانا عبدالماجد دریابادي (۱۹۷۷– ۱۸۹۲ز) نیکه مفتي محمد مظهر کریم د خپل وخت وتلی عالم و. د ۱۸۵۸ز په ماجرا کې علماوو د انګرېزانو په خلاف د جهاد فتوا ورکړه، په دې فتوا باندې د ده لاسلیک هم و. د اود د نورو علماوو مثلاً مولانا فضل حق خیر آبادی، مفتي عنایت احمد (د علم الصیغه مؤلف) او داسې نورو په خوا کې یې دی هم د نامعلومې مودې لپاره بندي کړ.**

**د بند په زمانه کې چې مولانا مظهر کریم صاحب بل کار نه درلوده، نو د عربي ژبې یو پند کتاب یې اردو ژبې ته وژباړه. د هغه ځای انګرېز افسران چې خبر شول، نو دا کار یې یوه «علمي لاسته راوړنه» وبلله او دومره خوشاله شوو، چې له حکومت نه یې د ده په ملاتړ کې ډېر زیات غږ پورته کړ. په دې سفارش خو دی سمدستي ازاد نه شو، خو د بند موده یې کافي ورته راکمه کړه. د سیاسي حریف په توګه انګرېزان د مولانا مظهر کریم دښمن و، خو د علمي او اصلاحي شخص په توګه د هغو ملګری شو.**

**دا وړه پېښه زموږ د معاصر تاریخ تصویر دی. په هغو میدانونو کې چې زموږ لپاره فرصتونه وو، هلته مو له کار کولو سره هېڅ دلچسپي ونه ښودله، او په کوم ډګر کې چې زموږ لپاره فرصت نشته، هلته خپل سر په دېواله وهو. یو سرباری ساده‌توب مو دا چې دې بې ګټې کار ته مو بیا د جهاد نوم هم ورکړی دی.**

## ناممکن؟

**د خدای په دې دنیا کې هېڅ شي هم ناممکن نه دي، ناممکن یوازې دا دي، چې د ممکن شي د ترلاسه کولو لپاره له ناممکنو لاره هڅه وشي.**

**له تخم نه هر شخص پاڼو ته رسېدلي شي، خو که له پاڼو نه تخم ته رسېدل وغواړو، نو داسې پېښه به د ځمکې په مخ هېڅ کله پېښه نه شي.**

ketabton.com - The Digital Library

# سوال او ځواب

یوه ښاغلي له قاهرې لیکلي: «دلته د حکمة الدین په نوم ستاسې یو کتاب چاپ شوی دی، په دې کتاب یوه لانجه راولاړه شوې ده. ځینې خلک د دې کتاب ډېره پلوي کوي او ځینې یې ډېر سخت مخالف دي. د قاهرې پوهنتون کې زده کوونکو د دې کتاب بیاکتنې هم نیولې وه. مخالفه ډله وایي، چې ستاسې کتاب خو جهاد له یوې مخې ختم کړی دی او دین یې تر روژې او لمانځه پورې محدود کړی دی. په دې تړاو دلته په جرایدو کې ځینې تنقیدې مقالې هم خپرې شوې دي.»

# ځواب

بې له شکه جهاد په اسلام کې تر ټولو غوره عبادت دی. خو جهاد د قتال په معنا اخیستل همدومره ناسم کار دی، څومره یې چې د دین له لیکلړ نه ویستل ناسم دي. حقیقت دا دی، چې د محمدي امت جهاد، دعوت او تبلیغ دی. په قرآن کریم کې د حق د شهادت په لاره کې خپلې قواوې لګول جهاد بلل شوی دی. (حج – پای) په بل ځای کې ویل شوي دي، چې د قرآن کریم په ذریعه له خلکو سره تبلیغي جهاد وکړئ. (فرقان – ۵۲) په قرآن کریم کې د دعوت حکم چې راغلي، نو الله تعالي یو درونډ حکم (مزمل – ۵) بللي دی. دعوت او تبلیغ دومره ستر کار ښودل شوی دی، چې دې کار ته د ځان د پوره وقف کولو مطلب دا دی، چې انسان خپل ځان په کې کنګال کړي (لعلک باخع نفسک) په اوسنۍ زمانه کې د راپورته شویو تحریکونو په تېروتنو کې دا تېروتنه د کتار په سر کې راځي، چې هغوی له جهاد نه د قتال یا سیاسي مبارزو معنا واخیسته. د دې پایله دا شوه، چې د جهاد ډګر، د دعوت په ځای سیاست وګرځېده او د مؤمنانه سرښندنې د جذبې د سړولو لپاره په دې دنیا کې یوازې دوه کارونه پاتې شول؛ که فرصت وي، نو توره وچلوه او که نه وي، نو ژبه وچلوه. مصر، الجزایر او هندوستان د دې خبرې ښکاره مثالونه دي. په دې سیمو کې چې کله د «استعمار» یا «باطل اقتدار» په خلاف د جنګ او جګړې فرصتونه وو، نو زرګونه مجاهدینو د ځان او مال قربانۍ ورکولې، او چې کله یې فرصت پای ته ورسېده، نو اوس له دې پرته بل هېڅ کار په سترګو نه ورځي، چې د خیالي طاغوتي سیاست په خلاف د لیک او وینا لفظي توپانونه راولاړ کړي، او چې کله د دې فرصت هم پاتې نه شي، نو په یوه ګوښه کې ډډه واچوي او د سخي بابا تسپې واړوي.

یوازې جهاد هغه ځواک دی، چې د ځمکې په سر اسلام ته قیام او استحکام وربښي. نو بیا څه وجه ده، چې په دومره لویه کچه د جهاد د جذبې له کارېدو سره سره اسلام په دې دور کې قیام او ټیکاو ونه مونده. د دې وجه دا ده، چې د جهاد جذبې د خپل اظهار سمه لاره ونه موندله او په ناسمو کې لاره برباده شوه. کټ مټ هماغسې چې له یوه لوی سیند نه بې اندازې اوبه سمندر ته ور توی شي او د ساحل د دواړو غاړو کروندې د اوبو نه رسېدو له امله له وچېدو سره مخ شي. ځکه چې دا چاره یې ونه کړه، چې د سیند اوبه کروندو ته راوګرځوي.

د دعوت مطلب دا نه دی، چې د خلکو تر غوږونو څو توري ورسول شي او یا د هغوی په ناسم روش تنقید وشي. حقیقت دا دی، چې دعوت د ډېرې لویې قربانۍ کار دی. د خپل وخت، د خپلو جذباتو، د خپل

ketabton.com - The Digital Library

مال، لنډه دا چې د هر څه له قربانولو وروسته هغه څه منځته راځي، چې دعوت يې بولي. په قرآن کريم کې حکم دی، چې د مدعو لپاره د داعي په زړه کې بايد ډېره زياته خيرخواهي وي، کومه خبره چې کېږي، په بليغه ژبه او د مخاطب د خپلې پوهې وړ اصطلاحاتو کې وشي، د مدعو له لوري په هر ډول تکليفونو صبر وشي. د مدعو له لوري د هېڅ اجر تمه ونه ساتل شي او خپل مال او شتمني په دې لاره کې ولګول شي. د مدعو له لوري په نيوکو باندې د پارېدو په ځای د هغه د هدايت لپاره لاسونه لپه شي، له هرې ممکنه لارې د مدعو زړه بايد رامات کړای شي. دعوتي کار بايد د عمر تر پايه پورې مسلسل جاري وساتل شي او بشپړ حق يې په ځای شي، نو دا دومره ستر او دومره نفس ويستونکي کار دی، چې د لويو لويو انسانانو د دې مسؤليت په ليدو واريار خطا شوی دی او هېڅ کله يې د دې مسؤليت د په ځای کولو له اړخه خپلې اوږې سپکې شوې نه دي ګڼلې.

د دې دعوتي عمل لپاره چې په پخوا زمانه کې کومې طريقې دود وې، اوس په هغو کې بې شمېره نوې طريقې اضافه شوې دي. د همدې لپاره په اوسنۍ زمانه کې دعوتي کار هم، د تدابيرو او وسايلو له پلوه، نويو وسعتونو ته رسېدلی دی. حقيقت دا دی، چې د دعوت او تبليغ جهاد نن ورځ دومره پراخ‌لمنه شوی دی، چې د «تېل‌ډالري» قاروني خزانه هم د دې کار د حقيقي بندوبست لپاره ناکافي ده. د حيرانتيا خبره ده، چې دغه زماني توپير نورو مذاهبو، مثلاً عيسويت ډېر ښه درک کړی دی او د خپل دين د تبليغ او خپراوي لپاره يې له دې نه ښه پرېمانه استفاده هم کړې ده. مګر مسلمان په دې ډګر کې دومره وروسته پاتې دي، چې ان د نويو امکاناتو شعور هم لا ورسره نشته. تر دې چې دوی ته دعوتي کار دومره عادي ايسي، چې په دې يې اوس سر نه خلاصېږي، چې دا ډول واړه کار ته د جهاد کلمه څرنګه کارېدلی شي!

**د نن ورځې انسان د يوې نوې نړۍ خوبونه ويني، د يوه بهتر راتلونکي، چېرته چې هغه څه ترلاسه کړي، چې په مشيني تمدن کې يې ونه موندل. سره له دې چې دی خبر نه دی، چې دا مستقبل په راتلونکې دنيا کې راتلونکی دی، نه په اوسنۍ دنيا کې.**

د امريکا بيولوژي پوه جوناس سالک ډېر بريالی ډاکټر و. د ده د طبابت کار ډېر ښه روان و. او په خوا کې يې خپلې طبي تجربې هم کولې.

يوه ورځ د ده پام شول، چې که خپله ټولې هڅې متمرکزې کړي، نو د پوليو درملنه کشف کولی شي.

ده د طبابت کار پرېښوده او څېړنو او تجربو ته يې مخه کړه. تر دې چې د پوليو واکسين يې ايجاد کړ او ابتدايي قرباني يې په ډېره لويه بريا بدله شوه.

اوس ده په امريکا کې «سالک د بيولوژي مؤسسه» په نوم يوه مؤسسه جوړه کړې ده. او اوسمهال له هغو وتليو څېرو نه شمېرل کېږي، چې په نړيوالو غونډو کې د خبرو او نظر شريکولو فرصت مومي.

ډاکټر سالک په جنوري ۱۹۷۷ کې هندوستان راغلی و، دلته يې د طبي ساينس د انسټيټوټ افتخاري فيلوشپ ترلاسه کړ. په دې سربېره (د نړيوالې همغږۍ) د نهرو جايزه هم ورکول شوه، چې يو ستر وياړ دی.

ده په خپله وينا کې د انسانيت د سفر ډېر هيله بښونکی انځور وړاندې کړ. ده وويل، چې زموږ دنيا له الف دور نه ب دور ته ننوتې ده. او اوس هغه زمانه راتلونکې ده، چې انسان به له مرګ، ناروغي او نفرت نه ازادي ومومي. او په يوه بهتره دنيا کې به ژوند اوسي.

ketabton.com - The Digital Library

# وخت هیچا ته انتظار نه کوي

هغه ړوند و. غوښتل يې له ستر انګړ نه دباندې ووځي. خو د ده لپاره دا خبره اسانه نه وه. انګړ ډېر پراخه و، خو د وتلو لپاره يوازې يوه دروازه وه. له هيچا سره دومره وخت نه و، چې ده ته لارښوونه وکړي او تر دروازې يې ورسوي.

خو يوه کس چې ښايي په ړانده سړي به يې زړه خوږېدلی وي، ورته وويل: مه وارخطا کېږه. په دېوال لاس کېږده او روان اوسه، چېرته چې دروازه راورسي، نو پخپله به پوه شې. ړوند سړی يې په خبره پوه شو، او روان شو. د ده لاس په دېوال ايښی و او په ډاډه زړه يې وړاندې قدمونه اخيستل. خو کله چې دروازې ته ورنيږدې شو، نو ناڅاپي يې ملا خارښ وکړ. ده لاس خپلې ملا ته يووړ او له دېوال نه يې لاس ايسته کړ، خو د ده قدمونه نه و درېدلي او په خپل حال مخکې روان و، او لږ وروسته يې بېرته لاس په دېوال کېښود او خپله لاره يې ونيوله. د ده په څېره لا هم د اطمينان څپې خورې وې. خو دی ډېر وړاندې تللی و او دروازه ترې شاته پاتې شوې وه. ده په دېوال لاس تم کړی او ځان سترې کړی و، خو دروازه به يې له کومه کوله، د دروازې په موندلو کې خو يې پښه ښويېدلې وه.

کټ مټ همدا حالت عموما په دنيا کې هم خلکو ته ورپېښ دی. چې کله يې د بريا فرصتونه مخې ته پراته وي، نو کوم خارښ ورپيدا شي. او چې کله يې خارښ ختم شي، نو وخت يې تېر شوی او فرصت يې له ګوتو وتلی وي.

وخت کله د چا انتظار کوي. دا زموږ مسؤليت دی، چې وخت له لاسه وتلو ته پرې نه ږدو.



پای

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*